# د هویت له انکاره تر کړکیچ زیږولو پورې

## علمي ـ څېړنیزه رساله

م. س. فضلی

سنبله ۱۴۰۴

FROM IDENTITY DENIAL TO CRISIS GENERATION

AN ACADEMIC RESEARCH

## بسم الله الرحمن الرحیم

**إِنَّ اللَّهَ لَا يُغَيِّرُ مَا بِقَوْمٍ حَتَّىٰ يُغَيِّرُوا مَا بِأَنفُسِهِمْ** ﴿الرعد: ۱۱﴾.

**د پورتني مبارک آیت مفهوم دادی:**

**دا الهی قانون او سنت دی، چي تر هغه وخته د یوه قوم یا یوه اولس حالت نه تغیروي، تر څو چي هغوی خپل حالتونه تغیر نکړي.**

**«که ووینم، چي ړوند د څاه پر لور روان دی، که چپ پاته سم، ګناه ده.»**

شیخ سعدي رحمه الله

## سریزه:

ډېر د تأسف ځای دی چي له یوې خوا د هیواد هغه حالت وینو، چي د څلورو لسیزو تېل سوو او کورنیو جګړو، د مستقیمو او غیر مستقیمو لاسوهنو، کډوالیو، فقر، بیکارۍ، ناروغیو او طبیعي آفتونو لکه وچکالۍ، سیلابونو، زلزلو او ګڼو نورو ستونزو له امله په کړاو او کړکېچ کي راګیر سوي یو او له بلي خوا په ټولنیزو شبکو کي، په ځانګړې توګه په وروستیو کلونو کي ځوانانو داسي غیر اخلاقي وضعیت غوره کړی دی، چي د دوی سره نه ښایي، لکه سپکاوی، ښکنځل او بدي ویناوي .... او دا ئې د خپل کلتور د برخي په توګه منلي دی، پداسي حال کي چي دغه کړني نه یوازي دا چي د هیڅ ستونزي درملنه نه سي کولای، بلکي د خلکو تر منځ کرکه، دښمني، کینې او د قومونو بېلتون ته لاره هواروي. د افغانستان خاوره د ټولو افغانانو ګډه شتمني ده، هیڅ څوک او هیڅ قوم پر بل باندي لوړتیا نه لري. همدا واقعیتونه وو، چي زه یې دې ته اړ کړم، چي قلم را واخلم او په دې اړه یو څه ولیکم، په دې هیله چي وتوانېږو لږ تر لږه د ځینو هغو ځوانانو ذهنونه چي د ځان خوښولو او تکبرپه ناروغۍ اخته سوی دي، د یووالي، پیوستون او د دښمنانو د توطیو د شنډولو روښانه لاري ته رهنمایي کړو. دا چي ولي ما د لیکلو لپاره دري ژبه غوره کړه، سره له دې چي دا زما مورنۍ ژبه هم نه ده، دوه اساسي دلیلونه لري: (نوټ دا رساله لومړۍ په دري ژبه لیکل سوی ده)

- **لومړی:** دا وښیو هغه کسان چي ځانونه فرهنګیان بولي، لازماً د هیواد پښتو ژبه نه سي لوستلای.

- **دوهم:** ټینګار پر دې وو، چې د هیواد دواړي رسمي او درنې ژبې زموږ لپاره ارزښتناکي دي، او زه خپله د دواړو ژبو په یو وخت زده کړه کي د ملي یووالي یو مهم عنصر وینم.

په دري ژبه خپره سوې رساله کي مو ژمنه کړې وه، چې نوموړې رساله به په پښتو ژبه هم چمتو کوو، نو د ژمني سره سم مو دادی، نوموړې رساله په پښتو ژبه هم چمتو کړه. همدارنګه هغه ملګري چي د دې رسالې ژباړې ته په نورو ژبو لکه ازبکي، بلوڅي او نورو کي لېوالتیا لري، کولای سي له ما سره اړیکه ونیسي، تر څو د متن ډیجېټل نسخه په واک کي ورکړل سي او خپله یې وژباړي.

کله چي یو ورور له بل ورور څخه جلا سي او هیوادوال د خپلي ژبي او قومیت په هنداره کي بل کس خپل دښمن ووینی، هم هغه مهال د هیواد اصلي دښمنانو ته لاره هوارېږي. زموږ بې‌اتفاقي هماغه څه دي، چې د سیمي او نړۍ ځواکمنان پسي ګرځي. هغوی له کلونو راپدېخوا زموږ داخلي ټپونوله څخه ګټه پورته کړې ده، د تفرقې ډولونه یې وهل، څو زموږ امنیت او ثبات له منځه ولاړ سي او د دوی ګټې خوندي پاته سي.

له بده مرغه موږ دې ته اړ سوی یو پر ځای د دې چې د خپلو داخلی دردونو درملنه وکړو، تل خپل پام د نورو د ردولو او د نظامونو د نسکورولو پر لوري ور ودانګو. په دې تکراري کړۍ کي نه یوازي د هیواد لوړي ملي ګټې، اقتصادي،

تعلیمي او ټولنیز بنسټونه، بیت‌المال او ملي سرمایه څو ځله له منځه تللي دي، ان تر دې، چې د سمون فرصتونه هم ضایع سوي دي.

زموږ د ژغورني یوازنی لاره د نظام د نیمګړتیاوو اصلاح او د نن پر بنسټ د سبا جوړونه ده، نه دا چې هر ځل ئې له ړنګېدو وروسته له صفره پیل وکړو.

له همدې امله د ځوان نسل پر اوږو درونډ مسئولیت پروت دی. ځوانان باید هوښیار وي، د تاریخ څخه په دقت زده کړه وکړي او اجازه ورنه کړي چي احساسات یې د تشو شعارونو ښکار سي، په ځانګړي ډول د هغو مغرضو کسانو له لوري چي له هیواده بهر د خپلو شخصي ګټو یا پردیو اجنډاوو د تعقیب په هڅه کي دي. یوازي د هوښیارۍ، د واقعیتونو د درک او د تعصبه پرته کولای سي ځانونه د تفرقې له دام څخه خلاص کړي او د خپل هیواد لپاره یو خپلواک او باثباته راتلونکی جوړ کړي.

نو ای د دې خاوري زامنو! پر تاسو لازمه ده چي بیدار واوسئ. هغه کسان چي د لیري سیمو څخه د تعصب اور بلوي، په حقیقت کي د پردیو د لاس آلې دي. تاسو باید په عقل، پوهه او یووالي سره د راتلونکي روښانه لاره وټاکئ او هغه په خپلو لاسونو جوړه کړئ. که نن ځانونه د تفرقې له دام څخه خلاص کړو، سبا به یو خپلواک، اباد او سرلوړی وطن ولرو؛ خو که غفلت وکړو، تاریخ به موږ هم د تېر په څېر د ناپوهۍ او نفاق قربانیان وبولي.

په دې لنډه ليکنه کې هڅه سوې ده، چې موضوعات او حقايق په علمي او مستند ډول وړاندي سي. د ټولو درناوی مراعات سي او قضاوت به بې‌طرفانه وي. د يادونی وړ ده چي له محترم انجنير محمد ربی آماج او محترم ډاکتر څخه د دې رسالې د متن د بياکتني، د محتوا د غني کولو او د هغوی د ارزښتمنو نظرياتو له امله ډېره مننه کوم. همدارنګه د موقع څخه په استفادی به له ښاغلی نعمت الله شاکر څخه هم مننه وکړم چی د خپلو بوختياوو ترڅنګ يي ددغي رسالی په پښتو ژباره او کتنه کي خپله همکاري ونه سپموله، کور يی ودان.

د فهرست د منځپانګي مطابق، لومړی به د زمان په اوږدو کي ډېر لرغوني تاريخ (له ميلاد څخه وړاندي) ته سفر وکړو او هغو شواهدو ته به رجوع وکړو، چي مورخينو په بېلابېلو دورو کي ياد کړي دي. داسي نه انکارېدونکي شواهد سته، چي څوک نه سي ويلای د هغو مورخينو او ژبپوهانو ليدلوری سياسي يا د تعصب له رويه وو. يا هو.

محمد سعيد فضلی

سنبله ۱۴۰۴

ټورنټو کاناډا

## د مطالبو لړلیک:


| شمیره | د منځپانګو سر لیکونه | پاڼه |
|---|---|---|
| - | سریزه | 2 |
| لومړی | د «افغان» د کلمې تاریخي شالید – له اوستایي دورې او له یادې شوې کلمې سره یې اړیکه | 7 |
| دوهم | د پښتنو جنیټیکی یا DNA ازموینه | 18 |
| دریم | د نړۍ د هیوادونو د جغرافیایي جوړښت لنډ تحلیل | 19 |
| څلرم | په وروستیو لسیزو کې د افغانستان د خلکو پر ضد د تبلیغاتي جګړو څپې | 23 |
| پنځم | د پښتنو او دري ژبو د تاریخي، فرهنګي او ټولنیزو اړیکو لنډه شننه | 33 |
| شپږم | د ځمکي پر مخ د عرفان/روحانیت له نظره د انسان د ژوند یو لنډه څیړنه | 48 |
| اووم | پایله | 52 |
| اتم | له دغه ډول بحرانونو څخه د وتلو لپاره څو وړاندیزونه | 53 |
| نهم | ماخذونه (منابع) | 57 |

## لومړی - د «افغان» کلمې تاریخي شالید – له اوستایي دورې او له یادي سوې کلمې سره یې اړیکه

دلته د استاد حامد نوید له انټرنټي پاڼې (I) څخه د هغه د څېړني لنډيز وړاندي کوو، چي پکښي ليکلي دي:

"د ژبپوهنې مطالعاتو او د لرغونو تاريخي متونو د دقيقي څېړني له مخي، د 'افغان' کلمه يوه لرغونې اصطلاح ده. که څه هم د افغانستان د اساسي قانون د څلورمې مادې له مخي، پښتانه لکه د هيواد نور قومونه 'افغان' بلل کېږي، خو د لغتونو د رېښه پېژندنې (Etymology) له علمي نظره، د کلماتو د زماني او مکاني تحول له مخې، د 'افغان' اصطلاح يوازي پښتانه قوم ته نسي منسوبېدای، ځکه چي دا دوه ځانګړي نومونه د لغتونو د رېښه پېژندنې او بدلون له پلوه ګډ اصل نه لري".

د بيلګي په توګه هغه کلمې لکه بلهيکا، بخدی، باختر او بلخ د «ب» او «خ» او کله هم «ل» په ريښه کي د ورته والی علامې ښکاره کوي. همدارنګه هغه کلمې، چي يوه ريښه لري، لکه "هروی"، "هريوا"، "هری" او "هرات" ګډې ريښې لري. مګر هغه کلمې لکه "پښتون" او "افغان" د ايتمولوژي دعلم له رويه دغسي مشترکي وجې نلري.

د پښتون کلمه د اسلام د مخه تاريخی متونو لکه ريګويدا او مهابهاراته ( د هند لرغونی حماسه د سانسکريت په ژبه)، همدارنګه د پښتون کلمه د هند په لرغوني

ژبه کي پراکریت نومیدله او د هند په مذهبی او ادبی متونو کي د "پکتاس" (Pakhtas)په نامه راغلی ده، چی هغه پکتانه، پختانه یا پښتانه دی. د یونانی ستر تاریخ لیکونکی په متن کی هم د "پکتیانس**"Pactyans"** یا **Pactyike /** **Pactyica**" په نامه راغلی دی.

په همدې اړه د سانسکریټ ژبي څیړونکی اگره والا (Agrawala) هم خپل نظر لري، هغه وايي: د "افغان" کلمه د يو خاص ټبر نوم نه دی. دده نظر په دې صحیح او معتبر دی، چي په پښتني قبایلو کي، لکه ځدران، منگل، غلزي، دراني، هوتک، اندړ، کاکړ، احمدزي، سړبني، پوپل، سوري، گدون، لودي، ستانکزي، محمدزي، یوسفزي، بنوڅي، خروټي، سواتي، سهاک، شینواري، ابدالي، بارکزي او نورو کي داسي ټبر نسته، چي نوم يې "افغان زی" یا "افغان خیل" وي.

اوس نو دا باید وڅیړل سي، چي د "افغان" کلمه له کومه ځایه منشا اخلي او څرنگه يې تحول کړی دی؟

د اوسپني د کشف او د جگړه ایزو آسانو د روزلو په زمانو کي په تیره بیا د افغانستان په شمالي دښتي سیمو کي (تر میلاد تقریباً ۱۸۰۰ کاله مخکي) د جنگیالیو یوه طبقه منځته راغله، چي په هند کي ورته کشتریا ویل کیده؛ خو د سانسکریت په آثارو کي هغه آس سپاره، چي د غرنیو سیمو « کوبها (Kubhā)» (کابل) څخه سیند، کشمیر او د هند شمالی سیمو ته تلل "اشوه کان" (Aśvakan)

نومیدل. د پراکریت په آثارو کې دغه کلمه "اوه ګانا- (Avagānā) " د آس سپرو په نامه راغلې ده.

په اوستا کې هم د "اوه‌ګان" کلمه د وهونکي او جنګیالي په معنا ثبت سوې ده. په اوستا کې دا کلمه د اوغنه(Avaghna) ، اوغانه(Avaghâna) ، اپغنه (Apaghna)، او اپغانه (Apaghâna) په بڼه راغلې ده. همداراز، په سانسکریت کې دا کلمه د اوګهنه(Avaghna) ، اوګهانه(Avaghâna) ، اپګهنه(Apaghna) ، او اپګهانه (Apaghâna) په تورو کارول سوې ده، چې معنا یې راپرځوونکی، مدافع، جنګیالی او نوري ورته معناوي لري. دا نوم د جنګیالیو او زړورو خلکو لپاره کارول سوی دی، لکه افغانان، چې دا نوم د هغوی لپاره تر ټولو ویاړمن او وړ نوم دی، کوم چې نورو خلکو ورکړی دی.

د ساساني دورې د پاچا لمړي شاپور (۲٦٠ میلادي کال) د زمانې د کعبه زردشتي (نقش رستم) د ډبرلیک متن، چې د ایران د شیراز په سیمه کې موقعیت لري، د امریکایي لرغونپوهانو لخوا لوستل سوی او تفسیر سوی دی. د دې ډبرلیک ۲۷ کرښې بشپړ تفسیر، چې د سپرینګ لونګ لخوا په ۱۹۴۰ میلادي کال کې د امریکا د سامي ژبو په مجله کې خپور سو، په یوه برخه کې دغه عبارت «وینده فروابګان رزمه ود» راغلی دی، چې د جنګي ماتوونکی یا فاتح معنا لري (II).

په فردوسي شاهنامه (۱۰۱۰ م کال) کې هم د «آوګان» کلمه دوه واره راغلې ده، چې د فریدون د زمانې د لښکر مشران وو:

سپهدار چون قارن کاوگان - سپهکش چو شیروی و چون آوگان

په بل ځای کي بیا هم فردوسي د فریدون د دغه داستان په اړه داسي وایي:

سپهدار چون قـــارن کـاو گـــان

بـه پـیـش ســپاه انـدرون آوگـان(III)

پر همدې اساس د ژبو څېړونکي د اتیمولوژۍ له نظره "افغان" کلمه ددغو لرغونو کلمو څخه را اخیستل سوې ګڼي.

د جان مارتین او الیزه رکلوس د څېړنو پر بنسټ، "افغان" کلمه د اس سپرو او جنګیالیو لپاره لقب وو. کریستن لیسن، مک‌کرندل او الکساندر کنینګهام هم دغه برداشت تأیید کړی دی.

ځکه چي اصیل آسان د جنګیالیو د بریا مهم عامل ګڼل کېدل، د آریانا پاچاهان به د اسانو په لرلو ویاړ کاوه. هغه اصطلاحات لکه لهراسپ (د تېز آس خاوند)، زرآسپ (د غنم رنګ آس)، بیورآسپ (د لسو زرو آسانو خاوند)، او ویشت آسپ (نجیب آس سپور)، د دې فرهنګي ارزښت څرګندونه کوي.

د "اسپه" یا "اسوه ګانه" پاچهانو سلسله د هندوکش شمالي دښتو، یعني د لرغوني باختر په سیمه کي د اصیلو آسانو د روزني ځای او د دوی د واکمنۍ مرکز وو (IV).

محترم انجینر محمد داوود اخک هم، د هند له سانسکریت پوه څېړونکي اګرهوالا سره په همکارۍ، د راټولو سوو منابعو پر بنسټ دا ثابته کړې ده چې د "افغان" کلمه له پښتون قوم سره مستقیمه اړیکه نه لري. د لاندي جدول په بڼه کي یادي منابع وړاندي سوي دي.

| شماره | منبع | تر لاسه سوي نظرونه |
|---|---|---|
| 1 | ابن بطوطه مراکشي | ...وروسته کابل ته سفر وکړ او هلته یې یوه قبیله ولیده چې افغانان نومېدل. کابل له ډېر پخوا د افغانستان د پاچهانو پلازمېنه وه، افغانان په غرونو کي قوي مورچلونه لري او ځواکمن خلک دي. |
| 2 | د البیروني، په کتابونو کي: تاریخ الهند، التفهیم، اقلیم سوم، الصیده، او د زیتون وني بیان. | د افغان کلمه د اوسني افغانستان په سیمه کي میشتو ډلو لپاره کارول سوې ده. د هندوکش غرونه له چینه تر زابل او بست پوري غځېدلي دي. |
| 3 | د ماري لوئیز کلیفورد، امریکایي تاریخ پوه، په کتاب کي: «د افغانستان مځکه او خلک» | د افغان نوم د تېز آس سپرو په معنا د بېلابېلو قبایلو لکه پښتون، تاجک، او ازبک لپاره کارول سوی دی. |
| 4 | کریستن لاوسو (ناروې)، اریک، جان مارتین (فرانسه)، الکساندر (انګلستان) | آپګان (افغان) د باکتریا او کاموچا څخه د اس سپرو یوه ډله وه، چې اوستایي دین یې درلود، او د عربو پر ضد یې مقاومت کاوه. |

| | | |
|---|---|---|
| 5 | استاد حمید نوید او هندي څېړونکی اگره والا | د "افغان" کلمه د کوم ځانګړي قوم یا قبیلې معنا نه لري، او هیڅ یوې قبیلې ته اشاره نه کوي. |
| 6 | د ابادیس فرهنگ | "اوغان / اوغو" په ترکي ژبو او نورو ژبو کې د اتل زوی، اتل یا جنگیالي معنا لري. |
| 7 | انجینر محمد داوود اخک، ژبپوه او آلماني تاریخپوه؛ فردیناند یوستي، د ایراني نومونو کتاب | "اوغان" یا "اوغو" چي اوستایي بڼه یې "اوه" ده، د ښه، خوش‌خویه، خوش‌اخلاقه او مهربان معنا لري. "اوه" یوه اوستایي کلمه ده چي د خوش‌اخلاق لپاره کارېده. |
| 8 | ارمني مورخ موسی کاغان، په خپل کتاب "تاریخ اوغان" کي | د خوش‌خویه، نېک او مهربان معنا لري. |
| 9 | د علامه عبدالحي حبیبي په مقالو کي: افغان او افغانستان | "اوه" او "اوه‌گان" په روایتونو او شاهنامه کي رایج دي. که د یوستي نظر ومنو، معنا یې مهربان او همکار ده، او که وروسته د قوم یا ټولني نوم گرځیدلی وي، دا بعید نه ده. دا روایت د شاهنامه فرهنگ په ۱۲مه پاڼه کي تایید سوی دی. |
| 10 | ډاکټر بیلیو، افغان د اوغان اوسنی شکل گڼي. | مخکې له دې چي عربان افغانستان ته راسي، هغوی د ارمنستان د غرونو اوغانانو سره آشنا وو. |
| 11 | جوانشیر قره‌باغی، ۱۸۴۷ میلادي | ښارونه لکه تفلیس، گنجه، ایروان، نخجوان، اردوباد، بردع، او بیلقان ټول د اوغان په نوم |

| | | |
|---|---|---|
| | | یادېدل. په دې سیمو کې ۲٦ بېلابېل اوغان قومونه اوسیدل. |
| 12 | د ارمنستان دایرة المعارف | دا تأیید سوې ده، چې سیمي لکه یغني (ختني)، کامبجان، بګ، شکي، ګتارو، خوغمار، ګغام، حمباس، قاقدشت، او هدګري میدان د اوغان قوم سیمي وې. |
| 13 | ارمني مورخ موسیز داسخور، په کتاب کي: تاریخ اوغانستان | "اوغان" د داغستان، ختیځ آذربایجان، او ارمنیا یوه سیمه وه چې پلازمېنه یې پرتاو وه. |
| 14 | پوهاند حسن کاکړ، په کتاب کې: پښتون، افغان، افغانستان، پاڼه ۱۲۱ | د چینایي مورخ هیون تسانګ نظر تایید سوی چې "اپو کین" (افغان) د یوې سیمي نوم و. |
| 15 | جورج کننګم، په کتاب کي: د پخواني هند جغرافیه | پورته روایت تایید سوی، او په بله برخه کې "اوپکیان" د افغان چینایي بڼه ګڼل سوې ده. |
| 16 | علامه علي احمد کهزاد، په کتاب: د افغانستان په شاهنامه کي. | "افغان" د هغه ځای معنا لري چې هلته اسونه یا اس سپاره موجود وي. (V) |

همدارنګه د ترلاسه سوو معلوماتو پر بنسټ په لاندي جدول کي د هغو نومونو، سیمو او قومونو یو فهرست په طبقه بندي سوی ډول وړاندي سوی دی، چې په اوستا او شاهنامه کي ذکر سوی دی او ځیني څېړونکي یې له پښتنو یا د هغوی له نیکونو سره تړلي ګڼي.

د زردشتیانو مقدس متن په اوستا کی

| کلمه / منطقه | شرح او د پښتنو سره يې ارتباط |
| --- | --- |
| هَپتَههَندو-Haft) Hindu) | معنا يې «اووه سيندونه» دي؛ دا سيمه د ايران ختيځ ته پرته ده چې د سند سيند حوزه پکښې شامله ده. دا د پښتنو نيکونو د لومړني استوګنځي په توګه د ختيځو آريايانو د واکمنۍ برخه وه. |
| سَرَويتی (Sarayu) | د يوه سيند نوم دی چې ځيني خلک يې د ننني سوات سيند سره تړلې ګڼي، چې د پاکستان په شمال کې موقعيت لري. دا سيمه د پښتنو له تاريخي استوګنځيو څخه ګڼل سوې ده. |
| پَرتَه وَه (Parətava) | ځيني سرچينې دا قوم له پرتو يا پرثو (يعني پارت) خلکو سره يو ګڼي، چې وروسته د خراسان ختيځ او جنوب ته او افغانستان ته ورسېدل. |
| سَغَه(Saka) | سکا قومونه د ايرانی نژاد لرونکي خلک وو، چې په منځنۍ آسيا، بلخ، او ختيځو سيمو کې اوسېدل. پښتانه کله ناکله له سکا قومونو سره تړلي ګڼل سوي دي. |
| آريَه(Airya) | دا اصطلاح د آريايي قومونو لپاره کارېږي. پښتانه له ژبني پلوه د ختيځو ايراني قومونو له ډلي څخه شميرل کيږي. |

د فردوسي نظم په شاهنامه کي:

| شرح او د پښتنو سره يې ارتباط | نوم/ منطقه / شخصيت |
|---|---|
| يوه سيمه ده چي د اوسني افغانستان په جنوب کي موقعيت لري. رستم، زال او سام د دې ځای اوسېدونکي ګڼل سوي دي، او ځيني څېړونکي هغوی د ختيځو قومونو او د پښتنو د نيکونو نښي ګڼي. | زابل / زابلستان |
| داهغه سيمه ده چي د افغانستان جنوب‌لويديځ او د ايران ختيځ پکښې شامل دي. دا د ختيځو قومونو له تاريخي سيمو څخه ګڼل کيږي، لکه پښتانه. | سيستان |
| کابل په افسانوي کيسو کي د اصلي ښارونو له ډلي څخه ياد سوی دی او د پښتنو له تاريخي ميشت ځايونو څخه دی. | کابل |
| د افغانستان د غزني ښار نوم دی. دا د غزنوي سلطنت مرکز وو، چي وروسته ډېر پښتانه پکښې ميشت سول. | غزنين |
| د ايران ختيځي تاريخي سيمي دي، چي په شاهنامه کي په ګڼو جګړو کي ذکر سوي دي. دا ځای د ختيځو آريايانو او پښتنو قومونو د يو ځای کيدو سيمه ګڼل سوې ده. | هند او سند |

| شرح او د پښتنو سره یې ارتباط | نوم/ منطقه / شخصیت |
|---|---|
| د شاهنامې حماسي شخصیتونه دي چې په زابل کې اوسیدل. د افغانانو په ملي‌پال لید کې دا شخصیتونه کله ناکله د پښتنو فرهنګي یا اسطوري نیکونه ګڼل کیږي(VI). | رستم، زال، سام |

د ژبپوهنې له نظره، د پښتو ژبې ګڼ شمېر اصطلاحات د اوستایي ژبې (د زردشتیانو مقدسه ژبه او د لرغونو ایرانیو ژبو له ډلي څخه یوه ژبه) ریښه لري. اوستایي او پښتو ژبې دواړې د ختیځو ایرانیو ژبو له کورنۍ څخه دي، نو ځکه د لغوي ورته‌والی ډېر مثالونه پکښې لیدل کیږي.

لکه څنګه چې فارسي، د ختیځو ایرانی ژبو له ډلې څخه ده؛ همداسی د پښتو ژبې لغاتونه له اوستایي او سکایي ژبو سره ډېر ورته والی لري، ان تر دې چې له منځنۍ فارسي سره یې ورته‌والی کم دی. په ځینو مواردو کې، پښتو داسي لغاتونه ساتلي دي، چې په معاصره فارسي کې یا خو هیر سوی دي، یا بدل سوي دي.

د اوستایي ژبې د لغاتونو دقیق شمیر چې په پښتو ژبه کې سته، تر اوسه په دقیقه توګه نه دی تثبیت سوی؛ ځکه چې د اوستایي او پښتو ترمنځ د تطبیقي ژبپوهنې څېړنیز ډګر لا هم پرانیستی دی. سره له دې، چې د ایرانی او لویدیځو ژبپوهانو

د څېړنو پر بنسټ اټکل کېږي، چي لږ تر لږه له۳۰۰ تر ۵۰۰ پوري پښتو لغاتونه مستقیم یا غیر مستقیم د اوستایي ژبي ریښه لري([1]).

له پورته مطالبو څخه دا پایله اخیستلای سو، چي حتی خپله پښتانه هم، لکه د نورو قومونو په څېر، په تدریجي ډول د تقلید له لاري دا منلې ده، چي دوی له قومي پلوه د «افغان» نوم سره تړاو لري. دا برداشت د تاریخ په اوږدو کي تکرار سوی او بنسټیز سوی دی.

لکه څنگه چي په پورته کرښو کي دا حقیقتونه له اسنادو او شواهدو سره وړاندي سول، چی «افغان» اصلاً د یوې جغرافیایي سیمې نوم وو، چي گڼ شمېر قومونو یو ځای ژوند پکښي کاوه.

---

[1] : (VII) *یادونه: د پورته یادو سوو موضوعاتو د تاریخي توضیحاتو د پراخوالي له امله، هڅه سوې ده، چي په درو مخونو کي د اتو یا ډېرو سرچینو لنډیز د جدولونو او څو پاراگرافونو په بڼه ترتیب سي. د دغو کتابونو لست د رسالې په پای کي ذکر سوی دی.*

**دوهم – د پښتنو جنیتیکی یا DNA آزموینه:**

ډی این ای په بیولوژي کي یوه علمي جنتیکي ازموینه ده، چي د انسانانو او نورو ژوندیو موجوداتو حجرې تجزیه او تحلیلوي، او له دې لاري څرګندوي، چي یو فرد له کوم نژادي یا جنتیکي اصل څخه سرچینه اخلي. دا ازموینه په نړیواله کچه منل سوې او پراخه کارونه لري، او په دې برخه کي هیڅ شک یا شبهه نسته.

موږ په تېرو څو کلونو کې له بېلابېلو ژورنالونو څخه ارزښتناکه او د پام وړ حقایق راټول کړي دي (VIII) چي لاندنۍ پایله یې د پښتنو په اړه د DNA ازموینو پر بنسټ داسي ده:

پښتانه یو ګډ جنتیکي اصل لري، چې پکښې د هند، ایران، منځنۍ آسیا او جنوبي آسیا د قومونو نښې لیدل کېږي. جنتیکي څېړنې دا هم ښیي چې پښتانه له جنتیکي پلوه له تاجکانو، بلوڅو او ایرانیانو سره نږدې اړیکه لري.

شفاهي روایتونه او افسانې سته، چي ادعا کوي پښتانه د بنی اسرائیلو د ورکو قبیلو له نسل څخه دي، خو جنتیکي شواهد دا ادعا نه تأییدوي. ګڼ شمیر علمي څېړنو ښوولې ده، چي د پښتنو او یهودي قومونو ترمنځ هیڅ د پام وړ جنتیکي اړیکه نه ده موندل سوې.

د پښتنو له یهودیانو سره تړل یوه استعماري پدیده وه، چي د انګلیس لخوا رامنځته سوه. په ۱۸٦۴ میلادي کال کي د محمد حیات خان بهادري په نوم کس د ایکسترا کمشنر په توګه د بنو سیمي ته واستول سو، چیري چي هغه د سر لویس

کاواګناري تر نظارت لاندي خدمت کاوه؛ هغه مهال کاواګناري د سیمي معاون کمشنر وو.

محمد حیات خان مخکي له دې، چي د بریتانوي مامور په توګه دنده پیل کړي، د سیکانو د دویمې جګړې پر مهال یې د جان نیکلسن سره مرسته وکړه، او له هغه سره یې نږدې اړیکي جوړي سوې. وروسته یی د سر لویس کاواګناري په سپارښتنه او تر نظارت لاندي، د بنو ولایت د سیاسي اجنټ په توګه یو اثر ولیکه چي په اردو او فارسي ژبو په لاهور کي خپور سو (IX).

**دریم : د نړۍ د هیوادونو د جغرافیایي جوړښت لنډ تحلیل**

د نړۍ په تاریخ کي بېشمېره مثالونه سته، چي د هیوادونو او قدرتونو نومونه او جغرافیایي پولي په دوامداره توګه بدل سوي دي. د دې بدلونونو اصلي لامل د امپراتورانو او سیمه ییزو پاچاهانو ترمنځ تل پاتې سیالي وه، چي د هغوی د ماتي یا بریا سبب ګرځېدلې ده، او له امله یې د نفوذ ساحې پراخي سوي یا راکمي سوي دي.

د بېلګي په توګه، استانبول، انتالیا او ازمیر هغه ښارونه دي، چي ترکانو په لرغونو زمانو کي له یونان څخه نیولي دي. د ازمیر ښار، د خپلي فرهنګي او ژبنۍ سابقې له امله، په ۱۹۱۹ کال کي د یونانیانو لخوا تر یرغل لاندي راغی؛ خو له دریې کلني جګړې وروسته، د اتاترک په مشرۍ، په ۱۹۲۲ کال کي بېرته د ترکیې خاوره وګرځېده او اوس د دغه هیواد نهبېلېدونکې برخه ده.

• عربی هیوادونه، له کوېټه تر مصر او لیبیا پورې، یو وخت د عثماني امپراتورۍ برخه وه؛ خو نن سبا د لوېدیځو قدرتونو تر نفوذ لاندې دي. تر میلاد مخکې، ایران له مصره تر روم پورې پراخ سوی وو؛ خو اوس یې سرحدونه ډېر محدود سوي دي. څو پېړۍ وړاندې، د جاپان امپراتورۍ د چین ځیني برخي او ټوله کوریا تر واک لاندې لرل؛ خو اوس یې سرحدونه یوازي د ټاپوګانو تر کچې پورې محدود سوي دي.

په یوه بله بېلګه کې، ترک‌تبار قومونه په بېلابېلو هیوادونو لکه ترکیه، آذربایجان، ترکمنستان، قزاقستان، قرغیزستان او ازبکستان کې تمرکز لري؛ خو په افغانستان، ایران او چین کې هم د اقلیتونو په توګه ژوند کوي. سره له دې، چې د دغو هیوادونو ټول اوسېدونکي ترک‌نژاد نه دي. د بېلګې په توګه، په ازبکستان کې ښارونه لکه سمرقند او بخارا اکثره فارسي ژبي ویونکي دي، او بېلابېل قومونه ژوند پکښې کوي. خو بیا هم دا هیواد د «ازبکستان» په نوم یادیږي.

د کردانو په اړه هم وینو چې دا قوم په ایران، عراق، سوریه او ترکیه کې شتون لري؛ خو تر اوسه هیڅ  هیواد د «کردستان» په نوم نه دی رامنځته سوی. دا یو نړیوال حقیقت دی، چې ډېر هیوادونه د قومي او ژبني تنوع لرونکي دي؛ خو دا تنوع پخپله د نوي هیواد د جوړېدو دلیل نه ګرځي. که چیري کردان وغواړي یو خپلواک هیواد جوړ کړي، نو ایا ایران، عراق، سوریه او ترکیه چمتو دي، چې د خپلي خاوري هغه برخه، چې له کردانو سره تړاو لري، هغوی ته ورکړي؟ ځواب بیله شکه منفي دی. په حقیقت کې، د کردانو ویش د دغو هیوادونو ترمنځ، د استعمار له هغو طرحو څخه یوه وه چې موخه یې په سیمه کې د شخړو او بې

ثباتۍ رامنځته کول وو. مبالغه نه ده که ووایو، چي دا به لږ تر لږه سل کاله جګړه وغواړي، تر څو کردان، که متحد هم سي، وکولای سي له دغو څلورو ځواکمنو هیوادونو څخه خپلي سیمي بیرته ترلاسه کړي.

یوه بله معاصره بېلګه، پخوانی یوګوسلاویا هیواد دی، چي وروسته په شپږو کوچنیو هیوادونو وویشل سو: بوسنیا، هرزګوینا، صربستان، مونتینیګرو، کرویشیا او مقدونیه. دا ویش اکثره د قومیت پر بنسټ ترسره سو؛ خو نن ورځ دا هیوادونه د ختیځي اروپا له کمزورو هیوادونو څخه شمېرل کېږي، چي د خلکو د ژوند سطحه هم په څرګند ډول نه ده ښه سوې، او شرایط د پخوا په پرتله لا سخت سوي دي، ان تر دې چي دا هیوادونه تل د لویو قدرتونو تر فشار لاندي دي.

نو ویلای سوي، چي د نړۍ په کچه سیمه‌ییز او محلي قدرتونه او حکومتونه د رقابتونو او مساعدو شرایطو له امله رامنځته سوي دي، همداسي د غلجیانو او وروسته د درانیانو د قدرت تمرکز په افغانستان کي، حتی ګاونډي هیوادونه هم تر خپل نفوذ لاندي راوستي وو.

نو دا د حیرانتیا خبره نه ده که د دې جغرافیې نوم بدل سوی وي، په داسي حال کي چي دا نوم اصلاً د پښتنو خپل هم نه وو په اوس وخت کي د «خراسان» شعار هم د ایران له نیابتي ډلو څخه راپورته کېږي، او زموږ ځیني تاجک ورونه پرته له تحلیل او تفکر څخه د «افغانستاني» اصطلاح کاپي کوي او کاروي، بېله دې چي پوه سي د دغسي اصطلاحاتو تر شا څه ډول توطیې پټې دي.

په پای کې باید ومنو چې نننۍ نړۍ یوه پېچلې نړۍ ده؛ هیڅ  هیواد یوازې د ژبې یا قومیت پر بنسټ نه سي وېشل کېدای. ډېر هیوادونه له بېلابېلو قومونو، ژبو او فرهنګونو څخه جوړ سوي دي. د ملیتونو د کمزورې کولو او تفرقه اچولو پر ځای، د دغه تنوع منل یو عقلاني او رغنده لاره ده.

**ځلرم : په وروستیو لسیزو کي د افغانستان د خلکو پر ضد د تبلیغاتي جګړو څپې**

راځئ چي بحث بیرته خراسان ته راوګرځوو! هغه سیمه چي د مورخینو په وینا جغرافیه یې ډېره پراخه وه، ان تر دې چي یو وخت د تاجکستان، ایران او د ازبکستان ځیني برخي هم پکښې شاملي وې. دا سرحدونه څنګه بیرته را ژوندي کېدای سي؟ آیا ایرانیان به اجازه ورکړي، چي یوازي د افغانستان نوم خراسان ته واړول سي؟ او ولې یوازي افغانستان؟ منطقي خبره دا ده چي ټولي هغه سیمي چي یادي سوي دي، باید خراسان وبلل سي. که واقعاً د لوی خراسان د إحیا هڅه کوو، نو باید تاجکستان، د ازبکستان ځیني برخي او د اوسني ترکمنستان یوه برخه هم د لوی خراسان برخه وګرځول سي. د هغه وخت د خراسان سرحدونه د اوسنیو سرحدونو غوندي روښانه نه وو. تر ټولو لومړی باید د لرغوني خراسان د سرحدونو موقعیت واضح سي.

هغه کسان چي په سمعي، بصري او لیکنیزو رسنیو کي د خراسان غوښتني نارې وهي، آیا دا هوایي شعار ورکوونکي جرأت او صلاحیت لري چي له دغو هیوادونو څخه د لرغوني خراسان د ځمکو د بیرته غوښتني ادعا وکړي؟ آیا تاسو په دغو هیوادونو کي د سیمي د قدرتونو له نفوذ څخه خبر یاست او دا توان لرئ چي د هغوی نفوذ خنثی کړئ؟ آیا دا تصور لرئ، چي ستاسو رسنۍ به د دغو هیوادونو (تاجکستان، ازبکستان، ترکمنستان او ایران) پر خلکو اغېز ولري؟ آیا دا محاسبه درسره سته، چي په تیرو پنځو لسیزو کي ستاسو په خپل هیواد کي څو سلنه خلک ستاسو د ږغ ملاتړ کړی دی؟ ایران، چي د عظمت ادعا لري، ونه توانېدی، چي په سیمه کي خپل نیابتي متحدین وساتي، حتی ونه توانېدی، چي

پر خپله پلازمېنه باندې د بمبارۍ مخه ونيسي، چې د پوځ لوړپوړي چارواکي ئې پکښې ووژل سول. آيا په داسي سيمه ييز او نړيوال وضعيت کي دا ډول شعارونه عملي کيدای سي؟ لافي او باتې هم يو حد او اخلاق لري. اوس خلکو د دې ډول شعارونو ماهيت درک کړی دی او په دغسي بې‌اساسه خبرو نه غولول کيږي.

راځئ وګورو، چې خلک څه وايي او څه يې ليدلي دي! د دې يوه لنډه بيلګه د ښاغلي مير عبدالرحيم عزيز له خولې، د "بهار سمسور افغانستان" چينل سره په مرکه کي (چې د ۲۰۲۴ کال د اپريل په ۱٦مه خپره سوې ده) وړاندې سوې ده، دا ارزښت لري، چې د دغي مرکې متن له درنو لوستونکو سره شريک سي.

«د ملي ستم ډله، چې د شوروي اتحاد لخوا روزل سوې وه، د طالبانو د واک ته رسېدو پر مهال (۱۹۹٦ کال) د زوال پر لور روانه وه، او دا هم د مسکو هيله وه. هغوی له احمدشاه مسعود سره يو تړون لاسليک کړ. د ايران عُمالو هم په همدې وخت کي خپل نفوذ په شمال کي پراخ کړی وو. په همدې وخت کي هغوی د دوکتور چنګيز پهلوان په نوم خپل استازی مسعود ته واستاوه او ډير وخت يې ورسره تېر کړ. هغه مسعود او ستميانو ته داسي تفهيم ورکړ چې له پښتنو پرته نور قومونه افغانان نه دي. همدلته د «افغانستانی» اصطلاح رامنځته سوه، او ستميانو ته يې تلقين کاوه چې تر هغه وخته ځانونه «افغانستاني» وبولي. چې موږ د خراسان دولت جوړوو، د هيواد نوم مو موقتي «افغانستان» دی؛ خو تاسو افغانان نه ياست.

ډاکټر عزیز زیاتوي: «هغوی (ستمیان) نه پوهیدل، چي په خراسان کي د اوسني افغانستان ټوله جغرافیه نه ده شامله، بلکي د افغانستان شمال ختیځ یوه برخه، د ماوراءالنهر یوه برخه چي تاجکستان، ازبکستان، ترکمنستان او د ایران لویدیځ (د اوسني مشهد سیمه) هم پکښي شامله وه، رانغاړله ».

د ښاغلي عزیز په وینا: «آیا دا خلک (فاسق افغانستانیان - هغه ستمیان چي د پردیو غلامان دي) دا توان لري، چي د ایران مشهد له خراسان سره وصل کړي؟ زه فکر نه کوم».

د ایران هدف دا دی، چي افغانستان د ایران تر تمدني حوزه لاندي وي او دا مفهوم ایرانیانو په سیمه کي رامنځته کړی دی، ان تر دې چي تاجکستان هم د دې حوزې برخه وبلل سي، تر څو ایران د دې سیمي بادار سي او مرکز یې تهران وي».

هغه زیاتوي: «د جمهوریت په وخت کي د ایران جاسوسان په وزارتونو کي ډېر فعال وو، حتی د ایران سفیر په کابل کي د جمهوریت پر مهال ښکاره څرګندونه وکړه چي افغانستان د اسرائیل په څېر دی او باید د پاکستان او ایران ترمنځ وویشل سي. په بله وینا، پښتون مېشتي سیمي، چي مرکز یې قندهار وي، باید پاکستان ته ورکړل سي، او شمالي او شمال ختیځي سیمي ایران ته ورګډي سي، څو افغانستان له نړیوالي نقشې څخه بشپړ ورک سي».

ډاکتر میر عبدالرحیم عزیز د خپلې مرکې په پای کې وایي: «دا ډول تبلیغات د ببرک کارمل له وخته پیل سوی وو او تر نن ورځې دوام لري. د بېلګې په توګه: په شمال (په خپله نفوذي حوزه) کې د ستمیانو مطلقه ناکامي، چې مهم‌ترین کس یې لطیف پدرام دی، هیڅ  لاسته راوړنه نه لري».

ښاغلی عزیز په پای کې داسې پایله اخلي: «د پښتنو ژوند د هزاره‌ګانو ژوند دی، د هزاره‌ګانو ژوند د تاجکانو ژوند دی او دا ټول قومونه یو له بل سره تړلي دي؛ هم قومي تړاو لري، هم جغرافیایي». (X)

 دا یوازې همدومره نه ده، بلکې په تیرو څو لسیزو کې د افغانستان د خلکو پر ضد له بېلابېلو خواوو تبلیغاتي جګړې په مختلفو بڼو رواني دي؛ مثلاً ځیني کړیو پښتانه د یهودي قبیلو ورکې سوي څانګې بللي دي. تر ټولو جالبه لا داده، چې یهودانو یوه ویډیو خپره کړې ده، اوس هم په یوتیوب کې موجوده ده، پکښې وایي،چې پښتانه د دوی ورونه دي؛ خو د مذهبي او فرهنګي خنډونو له امله سره بېل سوي دي.

راځئ دا جملې لږ تر لږه له منطقي اړخه وڅېړو! که پښتانه د دوی په وینا یهودان وي، نو د دوی یهودي ژبه څه سوه؟ او که فرض کړو، چې هغوی د پښتنو په منځ کې مدغم سوي دي، نو باید د هغوی له ژبې یو څه نښې پاته وای؛ خو تر اوسه هیڅا په دې اړه څه نه دي موندلي. که پښتانه یهودان دي، نو د پښتو ژبه له کومه سوه؟ هو، امکان لري چې د هغوی یوه کوچنۍ قبیله افغانستان ته راغلې وي او

دلته مدغم سوې وي؛ خو له نیکه مرغه ساینس دا موضوع د جنیټیکي ازموینو له لارې حل کړه او د توطیې دروغجن نظریات یې افشا کړل.

د دې بحثونو تر څنګ، په ټولنیزو رسنیو کې له پاکستان او هندوستان څخه د نظر خاوندانو لخوا په اردو ژبه ویډیوګاني خپرې سوي دي، په ځانګړي ډول یوه ویډیو، چې د دوکتور اسد محمود لخوا په لاهور کې چمتو سوې، د پام وړ ده. هغه په دې ویډیو کې ادعا کوي، چې پښتانه د حضرت سلیمان علیه السلام اولاد دی، او دلیل یې دا دی چې د حضرت سلیمان یو زوی «افغان» نومېدی (XI). د دې ډول نظریاتو ارزونه د تأمل وړ ده. راځئ دا فرضیه له منطقي اړخه وارزوو! آیا د یو پیغمبر اولاد، چې شاوخوا درې زره کاله وړاندې پاچا وو، زوی یې د اوسني افغانستان سیمي ته کډه سوی وي، او ټول پښتانه د حضرت سلیمان علیه السلام د همدې زوی نسل وي؟ په څنګ کې یوه بله ویډیو هم په یوتیوب کې خپره سوې ده، چې پښتانه د حضرت ابراهیم علیه السلام اولاد ګڼي.

تر اوسه په مستندو علمي او تاریخي منابعو کې هیڅوک نه دي توانیدلي، چې د «افغان» نوم د یهودي تاریخ په متونو کې پیدا کړي، او نه هم د حضرت سلیمان علیه السلام داسي زوی پېژندل سوی دی، چې نوم یې «افغان» وي. دا ټولې افسانې د اقوامو او د هیواد د ځوانانو ترمنځ د فکري ګډوډۍ، بحث پاروولو او جنجال رامنځته کولو لپاره جوړې سوي دي، چې منفي اغېز یې نن سبا په ټولنیزو رسنیو کې ښکاره دی.

دا یو ډېر اوږد بحث دی، چي تفصیل یې دلته نه ځاییږي، نو راځئ چي اصلي مطلب ته ولاړ سو! هغه دادی، که فرض کړو د «افغانستان» نوم پر نورو قومونو تحمیل سوی نوم دی. آیا دا نوم په اوسني وضعیت کي د بدلون وړ دی؟ که فرض کړو چي سبا د هیواد نوم په ټولو منابعو او رسنیو کي اعلان سي او «خراسان» ته واوړي، نو په هیواد کي به څه بدلون راسي؟

آیا دا نوم به د هزاره‌ګانو او ازبکانو لپاره د منلو وړ وي؟ ځکه خراسان تر ډېره د فارسي ژبو لخوا ارزښتمن بلل سوی، او له ژبني او فرهنګي پلوه د هزاره‌ګانو، ازبکانو او ترکمنانو ترمنځ چندان جذابیت نه لري. دا هم د ازبکانو او ترکمنانو د جلا تاریخي شالید له امله دی. په همدې ډول، نور اقلیتونه لکه بلوڅان، ایماقان، نورستانیان او نور قومي اقلیتونه هم ورته لیدلوري لري.

پر دې سربېره، نوري پوښتني هم ذهن ته راځي: آیا د هیواد د نوم په بدلولو سره به په اقتصادي یا ټولنیز وضعیت کي ښه‌والی راسي؟ آیا د هیواد د نوم په بدلولو سره به د هغو قومونو ترکیب بدل سي، چي په ولسوالیو، کلیو، قصبو او حتی کوڅو کي سره ګاونډیان دي؟ آیا د هیواد د نوم په بدلولو سره به وکولای سو، چي قومونه، ژبي او فرهنګونه له یو بل څخه بېل کړو، حال دا چي په لسګونو ولایتونو کي ګډ ژوند سره کوي؟ او بیا هم، آیا دا ممکنه ده، چي د دومره مداخلو او تعصباتو په صورت کي ټول قومونه په هیواد کي په آرامۍ سره ژوند وکړي؟

د اکثریت خلکو له نظره د هیواد نوم بدلول نه خوښي راوړي، نه بدبختي، نه یې په تېر کي کوم مثبت بدلون راوستلی دی، او نه به یې په راتلونکي کي راوړي. د

خلکو خوشبختي او د هیواد پرمختګ د علم، اتحاد، سیاسي پوهاوي او د اقوامو ترمنځ د یو بل منلو په اساس رامنځته کیږي، نه د نومونو په بدلون سره.

د هند پراخ هیواد تر ټولو ښه مثال دی، چې د پورته خبرو مصداق ګڼل کیږي. هند یو داسي هیواد دی، چې د ګوګل د معلوماتو له مخې، خلک ئې په ۱۲۱ ژبو خبرې کوي، او له دوه زرو څخه زیات قومونه او اتنیکي ډلې ګډ ژوند پکښې کوي. دا هیواد شاوخوا دوه سوه کاله د انګلیس تر استعمار لاندي وو، فقر، بدبختي او استثمار یې تجربه کړل. د انګلیسي اشغال پر مهال، د نفوس له مخې، د هر انګلیسي په مقابل کي شاوخوا شل هندوستانیان موجود وو(XII) .؛ خو د انګریزانو د هماغه شعار "تفرقه واچوه او حکومت وکړه" پلې کېدل وو، چې دا ستر هیواد یې پر ګونډو کړ، او دوې پېړۍ یې واکمني پر وکړه. نن، له اوه اویا کلونو آزادۍ وروسته، هند د آسیا یو سیاسي ځواک ګڼل کیږي او د نړۍ پنځم ستر اقتصادي قدرت بلل کیږي.

افغانستان یو داسي هیواد دی، چې لږ تر لږه نسبي سیاسي او اقتصادي خپلواکي یې ترلاسه کړې ده؛ خو د تېرو پنځوسو کلونو یرغلونو، جګړو او بدبختیو ناوړه اغیزې لا هم پر تعلیمي، اقتصادي، نظامي، سیاسي او ټولنیزو بنسټونو پاتي دي. د اساسي قانون احیا او پر بنسټ یې د حکومت د جوړېدو توقع کیږي. د ګاونډیو او سیمه‌ییزو قدرتونو هڅه دا ده چې د هیواد ډېرې قومونه او اقلیتونه تر خپل نفوذ لاندي راولي، څو په دې سیمه کي د تفرقه اچوني او ټولنیز انارشیزم له لاري خپلي ګټې خوندي کړي.

د دې تفرقې د لا ژورې او جدي کولو لپاره، د هیواد دښمنان په ډېر ځراکت، د لسګونو پروژو تر منځ یوه پروژه د «زه افغان نه یم» تر عنوان لاندې طرحه کړې او تمویلوي. ځینې ناخبره هیوادوال دا اصطلاحات کاپي کوي او د ټولنیزو رسنیو له لارې، یا د هیواد څخه بهر د غونډو او مجلسونو په ترڅ کې یې غږوي. د دې انارشیزم قربانیان هغه بېدفاع او بېوزله خلک دي، چې د هیواد ټول قومونه پکښې شامل دي.

زما په اند، د هیواد اوسنی وضعیت له نړیوالو ګډوډیو او ناارامیو څخه جلا نه دی. په وروستیو کلونو کې موږ داسې صحنې لیدلې، چې د اروپا د لومړۍ نړیوالې جګړې له پیل مخکې وخت ته ورته دي؛ هغه دوره چې وروسته هماغه ازمویل سوې او بریالۍ استعماري تګلاره آسیایي هیوادونو ته هم خپره سوه. د جګړې تر پیل مخکې، لومړی باید د نفرت تخم د خلکو ترمنځ وکرل سي. د وطنپالنې ـــ یا ملت پالنې په محدود او خاص مفهوم ـــ په نامه، دوهمې نړیوالې جګړې په میلیونونو انسانان مرګ ته سوق کړل. له بدهمرغه، اوس هم موږ ورو ورو هماغه وضعیت ته روان یو، داسې حالت ته چې نه یوازې زموږ هیواد، بلکې نړدې ټول هیوادونه د انارشیزم او بېثباتۍ پر لور روان دي.

ځینې سیاستوال، چې فکري ناروغي لري، د خلکو بدبختي د بل قوم یا ملت پر غاړه اچوي، چې دا یوه بله ناپوهي ده. حال دا چې د هیواد ټول قومونه او ملیتونه د تیرو څو لسیزو جګړو قربانیان دي. نږدې ټول قومونه د داسې مافیایي ډلو تر اغېز لاندې دي، چې هغوی ځانونه مبارزین او د خپلو قومونو د حقونو مدافعین ګڼي؛ خو همدوی د خپلو خلکو د بدبختۍ اصلي لامل ګرځېدلي دي. د نجونو

د ښوونځيو بندېدل او له ټولني څخه د ښځينه قشر حذف، لکه څنګه چي د نورو قومونو لپاره د منلو وړ نه دي، د روڼفکره پښتنو لپاره هم د منلو وړ نه دي. همداراز د ښځو نور بشري او انساني حقونه، لکه د کار حق او د ټولنيزو فعاليتونو حق ته بايد درناوی وسي.

نن سبا هيوادونه لکه هند، ترکيه، ايران او نور، سره له دې چي له اقتصادي لحاظه نږدې پر ځان بسيا سوي دي؛ خو له سياسي اړخه بشپړ واک او خپلواکي نه لري. په ترکيه کي، چي پخوا يو امريکايي ډالر د دوه نيمو لېرو سره برابر وو، نن ورځ يو ډالر د ۴۱ لېرو سره برابر سوی دی، چي دا د نړيوالو قدرتونو فشار ښيي، تر څو ترکيه د دوی غوښتني ومني. په داسي حالت کي چي نړۍ له ګډوډيو او سياليو ډکه ده، څنګه يو نوی خراسان رامنځته کېدای سي؟ د "لوی خراسان" دا خبري د دوی له فکر څخه نه دي، بلکي په يقين سره ويلای سو، چي له بلي سرچينې څخه راوتلي دي. دا ډول شخړي نه يوازي داچي ستومانوونکي او سرګردانوونکي دي، بلکي له علمي او تاريخي ليدلوري سره هم سمون نه لري.

ځيني ناسيوناليستي جريانونه په ايران کي، د "ايرانيت" د ځانګړي روايت د تثبيت او تحميل لپاره، تاجکان سپک کړي او هغوی يې په ناحقه "تازي" يا "عرب" معرفي کړي دي. حال دا چي ژبپوهنيزي او تاريخي څېړني په څرګند ډول ښيي، چي دا ډول ادعاوي هيڅ علمي بنسټ نه لري، حتی له برتري غوښتونکو ليدلورو او فرهنګي تکبر څخه سرچينه اخلي، نه له تاريخي او هويتي واقعيتونو څخه، نو مه خپل ځانونه غولوئ او نه نور ساده زړه لرونکي خلک.

د افغانستان بېلابېل قومونه لکه پښتانه او تاجکان له پېړيو راهیسي په دې خاوره کي په سوله یز ډول ژوند کړی دی، ژوند کوي او ژوند به وکړي. دا مهمه نه ده چي د هیواد نوم څه وو، یا څه دی، مهمه دا ده چي موږ څنګه یو له بل سره ژوند کړی او څنګه ژوند باید وکړو.

هیڅ قوم یا ملت د برتري غوښتني، تعصب یا له نورو څخه د کرکي له لاري، څه نه دي ترلاسه کړي، برعکس، په ګډ ژوند، وروروليـ، تفاهم او یو بل منلو سره، ژوند د ټولو لپاره خوشحال او د منلو وړ کېدای سي.

**پنځم: د پښتنو او دري ژبو ترمنځ د تاریخي، فرهنګي او ټولنیزو اړیکو لنډه شننه**

په دې کې هیڅ  شک نسته، چې د فارسي ژبي ویونکي د علم او فرهنګ په برخه کي په ځانګړي ډول د شعر، ادبیاتو، علم او عرفان مخکښ پاتي سوي دي او د ښارونو په ژوند کي یې د پښتنو په پرتله د پام وړ لاسته راوړني لرلي دي. فارسي علم او عرفان نه یوازې د پښتنو لپاره، بلکې د ترکانو، مغولانو، کردانو او عربانو لپاره هم د زده‌کړې سرچینه او لارښود پاتي سوی دی.

د عرفان ستر شخصیتونه چي د فارسي ژبي په جغرافیه او سیمه کي راځرګند سوي دي، د بشریت د ویاړ سرچینې دي. له دې جملې څخه مولانا جلال‌الدین محمد رومي بلخي، عمر خیام، شیخ سعدي شیرازي، خواجه حافظ شیرازي، ابوالمجد مجدد ابن آدم سنایي (حکیم سنایي) او لسګونه نور عارفان یادولای سو، چي له هغوی څخه زده‌کړه کېدای سي. له ډېر پخوا راهیسي، د سیمي عالمانو د حضرت سعدي له کتابونو، د مثنوي معنوي له درسونو او نورو آثارو څخه ګټه اخیستې ده او لا هم ګټه اخلي، او د دوی آثار د درناوي وړ ګڼل سوي دي او ګڼل کیږي.

پښتانه او د هیواد نور قومونه له فارسي ادب، هنر او په ټوله کي له فارسي فرهنګ څخه ګټه اخیستي ده، چي د دوی په ژوند کي یې ژور اغېز پرې ایښی دی. په تیرو څو پیړیو کي، پښتنو په ځانګړي ډول دري لهجې ته په دربارونو، دولتي ادارو، ښوونځیو او مدرسو کي وده ورکړې ده. البته دا باید هیر نه سي، چي ستر عارفان لکه حضرت مولانا او د هغه په څېر نور کسان وه، چي خپل ځان یې له

قومي، قبايلي او جغرافيوي محدوديتونو پورته باله. د مولانا دا فکر څرګندوي، چي هغه "له بلخ څخه روم ته راغی، نه رومي وو نه بلخي... د جنون له ښاره راپورته سو، نه مست وو نه ليونی" يعني د دوی ليدلوری د بشريت د خير او نجات لپاره وو، نه د ژبي او قومي فخر لپاره.

مولانا جلال‌الدين محمد بلخي رومي، خواجه حافظ شيرازي، شيخ فريدالدين عطار او نور، يوازي شاعران نه وو، بلکي داسي پيغام رسوونکي وه، چي کامل مقام ته د انسان رسيدل يې بنسټيز هدف وو. له همدې امله، د فارسي يا دري عارفان د داسي تعليم او تفکر په سيوري کي، چي د بشريت د خوشبختۍ بنسټ دی، د ګاونډيو قومونو لخوا هم منل سوی او درناوی ورته سوی دی. دا احترام تر دې حده وو، چي د سعدي بوستان او ګلستان او د حضرت مولانا مثنوي معنوي د علماوو لپاره د ديني نصاب برخه ګڼل کيده.

پښتانه د دري ژبي له زده‌کړي سره نه يوازي دا چي کومه ستونزه نه لري، بلکي بېله تعصب او پردۍ والي څخه، د هغې ژبي ډيري کلمې په خپله ژبه کي منلي دي. له بلي خوا، پښتو ژبه په خپل فونيتيک جوړښت کي پراخ ظرفيت لري او د نورو ژبو د جذب او زده‌کړې لپاره ډيره وړتيا لري. له همدې امله، ډېر پښتانه توانيدلي دي، چي په نړدې او ليري هيوادونو کي بهرنۍ ژبې ژر زده کړي او ښه تلفظ يې وکړي. موږ د افغان محصلينو ښې بېلګي لرو، چي په روسيه کي په روسي ژبه، په هند او پاکستان کي په اردو او پنجابي ژبو او په سعودي عربستان او اماراتو کي يې په عربي ژبه د پام وړ فصاحت ښوولی دی، حتی په ځيني هيودادونو کي يې د هغه هيواد له تابعينو څخه بېلوالی ګران وي. د تعليم په برخه

کي د پښتنو هڅو ډېره ښه نتیجه ورکړې ده، چي د ښاري او کلیوالي ژوند ترمنځ فرهنګي توپیرونه کم کړي، او دا پخپله د ټولو قومونو ترمنځ د ښاري وګړو د ګډ ژوند لپاره بې‌سارې مرسته کړې ده.

د پښتنو جغرافیوي موقعیت په داسي ځای کی دی، چي د سیمې د تمدنونو لویه لار پکښي تېریده، او همهاله به د سیمه‌ییزو سیالیو په منځ کي واقع وو. دا موضوع د یوه مهم او اغیزناک عامل په توګه، د دې خاوري د خلکو د حماسي او ازادي غوښتونکي فرهنګ په ساتنه او روزنه کي اساسي رول لوبولی دی. نن هم موږ د دغو سیالیو په زړه کي یو؛ سیالۍ چي یوازي بڼه یې بدله سوې ده، نور ماهیت یې د تیرو پیړیو د سیالیو غوندي دی. له بده مرغه، د پښتو ژبي د ویونکو دا موقف، د فارسي ژبي او فرهنګ وده، او د پښتنو شاتګ په هیواد کي، زموږ ځیني تاجک‌تبارو ورونو ته د ژبني غرور او سلطې احساس ورکړی دی، په ځانګړي ډول هغه مهال چي دوی لیدل نور قومونه ټول فارسي زده کوي او پرې خبري کوي، نو دوی ته د ځان‌خوښۍ احساس پیدا سو او د دې اړتیا یې نه لیدله چي د نورو ژبي او په ځانګړي ډول پښتو زده کړي. البته دا چلند زیاتره په ښارونو کي محسوسېده او وروسته دا چلند تر دې حده ورسېدی، چي د هیواد ډېری دري ژبو وګړو به ویل: «زه په پښتو پوهیږم؛ خو ویلای ئې نسم، یا پرې خبري نسم کولای». برعکس، موږ لیدلي دي، چي د نورو قومي اقلیتونو لکه نورستانیانو، ایماقانو، بلوڅانو، عربانو، هندوانو، سیکانو او نورو اقلیتونو هڅه کوله، چي پښتو او دري ژبي زده کړي او ښه یې زده کیدې؛ خو زموږ دري ژبي هیوادوالو پښتو ژبه نه زده کوله او ځانونه به یې له نورو فرهنګونو لوړ ګڼل. موږ د داسي

حالت شاهدان هم یو، چي د دري ژبو ښوونځيو تر ټولو وړ شاګردان به د پښتو ژبي په مضمون کي نږدې صفر کچي ته رسيدلي وو؛ البته استثناوي سته او زموږ ټولو غير پښتنو دغه چلند نه درلود.

څرګنده خبره ده، چي په دې ژبنيو تعصبونو کي به یو شمير سياستوالو آګاهانه یا ناآګاهانه لاس درلود، چي بالاخره دا حالت د استعمار په ګټه تمامېدی، چي له بده مرغه دغه وضعيت اوس هم دوام لري، په ځانګړي ډول له هيواد څخه بهر.

زما په اند، د پښتنو د فرهنګي او ټولنيز شاتګ بله مهمه وجه د پښتنو د خپلو مشرانو شاتګ وو، حتی هغه چارواکي چي خپله پښتانه هم وو، دې موضوع ته ئې پام نه وو کړی. په ټوله کي دا دواړه عوامل یو د بل بشپړوونکي وو. د ښاري ژوند له پراختيا سره، پښتنو هم د خپل شاتګ پر حالت نيوکه وکړه او په دې لړ کي يي سياسي ګوندونه او مدني ټولني جوړي کړې. دا وضعيت په ځانګړي ډول په لويو ښارونو کي ډېر محسوس وو.

که لږ تر لږه د نږدې تير وخت سياست ته نظر واچوو، نو وينو چي انګريز استعمار د محلي جاسوسانو تر څنګ له ټولو قومونو څخه ګټه اخيسته؛ خو د تاجکانو ونډه د نظامونو پر ضد په مخالفت او سرکوبولو کي تر نورو روښانه وه. د بچه سقاو رول د امان‌الله خان د مترقي حکومت په سقوط کي ډېر زيان رسوونکی او ورانوونکی وو. هغه حتی د نظام ټول فعاليتونه کفري اعلان کړل او ښځي يې له سپکاوي سره خپلو کورونو ته ستنې کړې. همداسي په پنځمه هجري لسيزه کي، احمدشاه مسعود نه يوازي د پاکستان لخوا د خپل هيواد پر ضد وکارول سو،

بلکي د شوروي پوځ د اشغال پر مهال يې له هغوی سره د سولي سند لاسليک کړ، چي دا د هغه وخت د ټولو تنظيمونو له روحيې سره په تضاد کي وه(XIII) .

دا يوازنی مورد نه وو؛ هغه په خپلو مرکو کي ښکاره قومي او ژبني تعصب ته لمن ووهله، چي پايله يې د «زه افغان نه يم» کمپاين او د «لوی خراسان» شعار سو. دا شعارونه لومړی پټ وه او د هغه له مرګ وروسته د هغه د ډلي لخوا ښکاره مطرح سول. مسعود د تاجکانو په منځ کي تر ټولو شرارت‌کوونکی شخص وو، چي په هيواد کي يې يو منظم ورانوونکی او آنارشيستي نقش ادا کړ. مسعود ، د نظار شورا او برهان الدين رباني، چي د جهادي تنظيمونو د موافقې خلاف، د څلورو مياشتو پر ځای په فريب او دهوکه سره نژدې څلور کاله قدرت غصب کړی وو، چي دا عمل د اسلامي دين له تعليماتو سره په تضاد کي دی، د بېلګي په توګه د صف سورت دوهم آيت کي الله تعالی فرمايي: «يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لِمَ تَقُولُونَ مَا لاَ تَفْعَلُونَ» (ای مؤمنانو! ولي هغه څه واياست چي عمل نه په کوئ؟). او دا کار د اولس له توقع څخه هم مخالف وو؛ ځکه هغوی تمه لرله چي جهادي تنظيمونه به سوله سره وکړي؛ خو برعکس، دوی د حکمتيار او نورو تنظيمونو پر ضد د قدرت لپاره په کورنۍ ويجاړوونکې جګړه کي ښکېل سول، چي پايله يې د کابل د ۷۰ زرو بې‌ګناه مظلومانو شهادت او د ښار بشپړه وراني وه. د دوی جګړه دومره وحشيانه وه، چي حتی د کابل خلک مجبور سول خپل اولادونه وپلوري.

د ظاهرشاه د دموکراسۍ په لسيزه کي او د سردار محمد داود خان د واکمنۍ پر مهال طاهر بدخشي، د روسانو د اشغال پر وخت احمدشاه مسعود او همداراز د

حامد کرزي او محمد اشرف غني د حکومتونو پر مهال احمد مسعود او د هغه د فکري ملگرو لکه لطیف پدرام او د هغوی د ډلو لخوا، په وروستیو کي د خپلو ملاتړو په مرسته لکه د سیمي هیوادونه او اروپایي هیوادونه، په ځانگړي ډول فرانسې تحرکات پیل کړي دي، تر څو وکولای سي په هیواد کي د نفاق اور بېرته بل کړي. دوی داسي غوغا جوړه کړه، چي حتی ځیني اروپایي هیوادونه یې تر اغېز لاندي کړل، څو د دوی خبرو ته غوږ ونیسي. د دوی هڅه دا وه چي پر ټولو پښتنو د تروریزم مهر ولگوي؛ خو دا چي د دوی کمپاین غیرملي او غیر اولسي ماهیت درلود، نو ناکام سول.

جهالت په ټولو بشري ټولنو کي موجود وو او انسان بې‌شمېره قرباني ورکړي دي. انسان د خلقت راهیسي د تکامل په حال کي دی او زما له نظره دا مسیر به تر ابده دوام ولري، لکه څنگه چي حضرت مولانا فرمایي: «حیات د اضدادو یوه مجموعه ده». که موږ دا اضداد وپېژنو، همدا د انسان د پرمختگ سبب گرځي. د بشر د قربانیو په اړه مو له گوگل/انټرنټ څخه لاندي پوښتنه کړې ده او د گوگل ځواب مو لاندی ایښی دی، تر څو رڼا پر واچوو:

پوښتنه: آیا ویلای سئ، چي د تاریخ په اوږدو کي څو تنه شاعران، عارفان او ولیان په دري یا فارسي ژبو هیوادونو کي د محلي خلکو لخوا زنداني سوي، وژل سوي، شکنجه سوي یا له خپل وطن څخه تبنتېدلي وي؟ او تر ټولو مشهور یې څوک وو؟ یوازي یې نومونه یاد کړئ.

ځواب: هو، د تاریخ په اوږدو کې د فارسي ژبو هیوادونو (ایران، افغانستان، تاجکستان او همژبو سیمو) یو شمېر شاعران، عارفان او ولیان د سیاسي، مذهبي یا ټولنیزو دلایلو له امله زنداني سوي، وژل سوي، تبعید سوي یا شکنجه سوي دي. د ځینو مشهورو شخصیتونو نوملړ په لاندی ډول دی:

حلاج (حسین بن منصور حلاج) - اعدام سو .سهروردي (شیخ شهاب‌الدین یحیی سهروردي) – ووژل سو .بابا طاهر همداني – تبعید او تر مذهبي فشار لاندي، مولانا جلال‌الدین محمد بلخي له بلخ څخه جبري مهاجرت. ناصر خسرو قبادیاني – د بدخشان یمګان ته تبعید. سنایي غزنوي – یوه موده فکري انحصار او مذهبي فشار.مولانا جامي (نورالدین عبدالرحمن جامي) – د سیاسي آزار ښکار .عبدالقادر بیدل دهلوي – له سمرقند/بدخشان څخه جبري هجرت. صائب تبریزي – سفر او پخپله خوښه هند ته تبعید. فروغي بسطامي – بند او مذهبي فشار .ملک‌الشعرای بهار د ایران په معاصره دوره کي زندان او تبعید. میرزا آقاخان کرماني – زنداني او په تبعید کي اعدام سو .صادق هدایت مهاجرت او په تبعید کي مړینه (پاریس).

زما هدف له پورته بحث څخه دا دی، چي جهالت (ناپوهي) په هر وخت کي موجود وه، ده، او وي به؛ دا پدیده هیڅ قوم یا ملت ته ځانګړې نه ده. که تاریخ ته یوه ځغلنده کتنه وکړو، نو وینو چي تقریباً ټول انبیا، اولیا، عرفا، ساینسپوهان او هغه کسان چي علم او تحقیق ته یي مخه کړې ده، د همدغه برخلیک سره مخ سوي دي.

د نورو بشري ټولنو په څېر، پښتانه هم په تیرو سلو کلونو کي، په ځانګړي ډول د تیرو شلوېښتو کلونو جګړو او پرلهپسې مهاجرتونو په جریان کي، له بهرني نړۍ سره په تماس کي تجربې ترلاسه کړي دي، که څه هم دا تجربې ورته ګراني تمامي سوي دي؛ خو د پښتنو ټولنو یوې ستري برخي زده کړه ځني وکړه، هغوی تعلیمي او مسلکي مرکزونو ته مخه وکړه، او په ځانګړي ډول په لوړو زده کړو کي یې د پام وړ پرمختګ وکړ.

د محمد ظاهرشاه د حکومت پر مهال، په ۱۹٦۴ کال کي، د پښتو ژبو خلکو د غوښتني پر بنسټ نوی پارلمان وتوانېدی، چي د حکومتدارۍ سره تړاو لرونکي ځيني پښتو اصطلاحات انتخاب او رسمي کړي، چي په پایله کي پښتو ژبه هم په همدغو کلونو کي د دري ژبې ترڅنګ رسمي سوه. دا څو پښتو اصطلاحاتو د حامد کرزي او محمد اشرف غني د حکومتونو پر مهال، د دوهاتشه متعصبینو ترمنځ غوغا راپورته کړه. دا موضوع ورو ورو دومره جدي سوه، چي د پارلمان اجندا ته واوښته؛ لکه د «پوهنتون» او «دانشګاه» اصطلاحات، چي تقریباً هر څو ورځې وروسته بحث پر کيدی.

د پښتو ژبي رسمي کېدل باید درې سوه کاله مخکي ترسره سوي وای؛ خو د پښتنو د وروسته پاتی والی له امله دا کار ډېر وخت ونیاوه، تر څو هغوی خپل دا حق وپېژندی.

که استثناوي په نظر کي ونیسو او د افغانستان د تېرو نژدې پنځوسو کلونو تحولاتو ته وګورو، نو د تاجکو ورونو لخوا چي کوم انتقادونه سوي دي، که لنډیز یې

جوړ سي، نو يقيناً له اتيا سلنه پورته اعتراضونه يې پر هغو نظامونو متمرکز وو، چي پښتانه پکښي واکمن وو. دا په داسي حال کي ده، چي منطقي تمه دا وه چي بهرنۍ مداخلې او تر ټولو مهمه، د بهرنيو ځواکونو يرغلونه هم بايد په هماغه اندازه تر نيوکي لاندي نيول سوی وای، هغه يرغلونه چي پر ټول ملت يې تباه کوونکي اغېزې لرلې. که حکمتيار په اويايمه لسيزه کي کابل په راکټونو وويشت، نو بايد انصاف وکړو: آيا مسعود، دوستم او نورو کابل کی د گلونو اميلونه ويشل؟ پايله دا سوه، چي حکمتيار ته د «راکتيار» او «قصاب کابل» لقبونه ورکړل سول؛ خو جالبه دا ده چي مسعود «ملي قهرمان» سو، دوستم «مارشال» وبلل سو، خليلي او نور «محترم مجاهدين» وپېژندل سول.

په همدې ډول، د جمهوريت نظام د سقوط پر مهال، ټول سپکاوی او د ملامتۍ بار پر محمد اشرف غني اچول سو، هغه ته د «تښتېدلي» او «غله» لقبونه ورکړل سول؛ خو د مسعود ورونه، د هغه زوی، د بلخ امپراتور عطا محمد نور او نور کسان په ډيپلوماتيکه بڼه له انتقادونو خلاص سول. د جمهوريت د شل کلن نظام په اوږدو کي د دولتي چوکيو په ويش کي پنجشيريان، بدخشانيان، مزاريان، تخاريان، پروانيان، باميانيان او يو شمېر نور له سرپل او جوزجان څخه په دولتي بېرواکراسيو کي تر ټولو ډېره ونډه لرله، په ځانگړې ډول د دفاع، داخله او ملي امنيت وزارتونو او ادارو کي؛ هغه ځايونه چي د قدرت امتيازات او بهرني قراردادونه پکښي غصب سوي وو، غلا او چور تر ټولو رسوا حد ته رسيدلي وو.

له بلې خوا پښتنو په خپل ورځني ژوند کي نه يوازي بمبارد، وژني او تهديدونه زغمل، بلکي د نظام له دننه او حتی عامو خلکو لخوا ورته د «فاشيستانو» او

«تروریستانو» لقبونه ورکړل سول. زما هدف له دې بحث څخه د فاسدو پښتنو دفاع نه ده، بلکې موخه مې دا ده چې کله د یو چا بد اعمال غندو، نو باید پرته له دې چې قوم، ژبه یا ملت یې په پام کې ونیسو په مساوي ډول یې بدې کړنې وغندو او انتقاد پرې وکړو. د پښتنو پر مشرانو د دې تبعیضونو او سپکاوي شواهد تر اوسه هم په رسنیو کې لیدل کېږي.

د دې ډول دسیسو یوه بله روښانه بېلګه د «ناشناس ناشناس نه دی» په نوم کتاب کې راغلې دي، چې د صبور سیاسنګ لخوا له ډاکټر صادق فطرت «ناشناس» سره مرکه سوې وه. په دې ترڅ کې د «پټه خزانه» کتاب په اړه هم بحث سوی وو. ظاهراً داسې څرګندېده، چې دا پوښتنې د ناشناس د هنر د مینوالو لخوا مطرح سوې دي؛ خو دغې موضوع د پښتنو ترمنځ سخت غبرګون راوپاراوه؛ ځکه دا پوښتنې له یوه زاړه هنرمند سره، چې نږدې نوي کاله عمر لري او د هغه په وینا، د ۲۰۱۹ کال د اپریل په پنځمه نېټه د هستي تلویزیون له زکریا نایبي سره په یوه مرکه کې کړې وې، چې «پټه خزانه» یې نه ده لوستې، نو دا پوښتنې غیر ضروري او مغرضانه ښکاري.

ناشناس اعتراف وکړ، چې باید داسې تبصره یې نه وای کړې؛ ځکه له هغې څخه سیاسي تعبیرونه واخیستل سول. هغه وویل: «یوازې مې دا ویلي وو، چې د «پټه خزانه» د شعرونو متن د معاصري پښتو ژبې له شعرونو سره ورته والی لري» حال دا چې په هماغه مرکه کې، استاد شهسوار سنګروال څرګنده کړه، چې د «پټه خزانه» په متن کې داسې لغاتونه سته، چې نن سبا هیڅوک نه په پوهېږي؛ ځکه دا لغاتونه په معاصره پښتو ژبه کې نه کارېږي.

ناشناس د دې پوښتنې په ځواب کې چې آیا دا پوښتنه د «پټه خزانه» په اړه مغرضانه یا سیاسي وه، وویل: «نه، مغرضانه نه وه، خو یو ډول سیاسي رنګ یې خپل کړ.» (XIV)

دلته یوه پوښتنه ذهن ته راځي: په داسې حال کې، چې زموږ هیواد څلویښت کاله جګړه تجربه کړې ده، میلیونونه انسانان یې بېوزله سوي دي، پراخ مهاجرتونه سوي دي او لسګونه نوري ستونزي سته، آیا واقعاً دا اړینه وه، چې د سل او پنځوسو پوښتنو په منځ کې یوه پوښتنه د «پټه خزانه» په اړه شامله سي او بیا ئې په اړه تبلیغ وسي؟ یقیناً دا مغرضانه وه.

په وروستیو کلونو کې داسې کمپاینونه رامنځته سوي دي، چې هدف یې د قومي او ژبني هویت جوړونه وه، د پخواني نظام پر ضد، چې زیاتره یې د پښتو ژبې او د «افغان» ضد نومونو پر محور ولاړ وو. لکه «زه افغان نه یم» کمپاین، یا «افغان ملي نوم نه دی، بلکې قومي نوم دی»، او یا «لوی خراسان»... دا ټول پلانونه د هیواد له سیاسي او ملي هویت سره په تضاد کې طرحه سوي دي. د دې ذهنیت د پیاوړتیا یو عامل د ګاونډیو هیوادونو، په ځانګړي ډول ایران هیواد رسنۍ دي، چې له دې فکر څخه د خپلو موخو لپاره استفاده کوي او د غیرپښتنو قومونو احساسات تحریکوي.

همدارار، له بده مرغه باید وویل سي، چې د برېښنایي تذکرو د ویش پروژه د حامد کرزي د حکومت پر مهال، شاوخوا د ۲۰۱۰ کال په حدودو کې د مالیزیا هیواد په تخنیکي همکارۍ پیل سوه؛ خو د ځینو چارواکو د فساد، ناغېرۍ او

همداراز د مافیایي کړیو د لانجمنو مداخلو او فشارونو له امله، په ځانګړي ډول د پدرام تر مشرۍ لاندي او په پټه د اشرف غني د حکومت د ځینو غړو، لکه ډاکټر عبدالله د ملاتړ له امله دا پروژه څو کاله له ستونزو سره مخ سوه.

دا کشمکش او ستونزي د دې سبب سوې، چي د برېښنایي تذکرو عملي وېش تر ۲۰۱۸ کال پورې وځنډېږي، پداسي حال کي چي خپله ډاکټر عبدالله د دې پروژې رسمي پیل په ۲۰۱۵ کال کي لاسلیک کړی وو. که څه هم د دې پروژې اړوند جریانونه د دې لیکني د ساحې برخه نه جوړوي؛ خو د ځیني ډلو لخوا د هویت‌ستیزۍ یوه ښکاره بېلګه ګڼل کیږي.

د تخنیکي او جزئي اړخونو تر څنګ، باید ټینګار وسي، چي د برېښنایي تذکرو د ویش د ځنډ اصلي موضوع د «افغان» کلمې ساتل او شاملول وو(XV) .

په پای کي د دې بحث یوه بله بېلګه د جمهوریت د کلونو په اوږدو کي د سنبلې د اتلسمي نېټې د لمانځني طرز دی، چي د مسعود پلویانو دا ورځ په ځانګړي ډول په کابل کي په ډېر تاوتریخجن او حتی غیرانساني ډول نمانځله. په دغو مراسمو کي به موټرونه له وسلوالو ځوانانو ډک وو، چي د کابل په سړکونو او کوڅو کي به یې هوایي ډزي کولې، تر څو خپل حضور وښیي؛ دا عمل د عادي خلکو لپاره د وېري سبب وو او له بده مرغه ډېر بې‌ګناه هیوادوالو به د دغو ډزو له امله خپل خوږ ژوند له لاسه ورکړ. که څه هم د قربانیانو دقیق شمېر نسته؛ خو په YouTube شبکه کي له دې ډول مراسمو څخه ګڼ شمېر ویډیوګاني سته، چي د تاوتریخوالي شدت او خطرونه یې ښیي.

د «خراسان» طرحه نه یوازي د افغانستان د نوم د بدلولو یوه دسیسه ده، بلکې هدف یې د ایران فرهنګي نفوذ بېرته راوستل او د منځنۍ آسیا د فارسي ژبو خلکو او ایران ترمنځ یوه ګډه فرهنګي جغرافیه رامنځته کول دي. دا طرحه په ظاهره ډېر فرهنګي او د ویاړ وړ معرفي کېږي؛ خو په اصل کې یو استعماري پلان دی، چې د پښتنو د هویت د له منځه وړلو ترڅنګ، قومي او ژبني برتري ترویج سي.

پښتانه د تاریخ په اوږدو کې نه یوازي د دري/فارسي فرهنګ پر ضد اقدام نه دی کړی، بلکې دا فرهنګ ته یې په خپل تعلیمي، اداري او دیني نظام کې ځای ورکړی دی؛ خو له بده مرغه دغه متقابل چلند د هیواد د دري ژبو خلکو لخوا له پامه غورځول سوی دی. اوس چې پښتانه بیدار سوي او د ژبني، هویتي او فرهنګي توازن غوښتونکي دي، نو دا مشروع غوښتني ته یې د تعصب او قوم‌پالنې په سترګه کتل کېږي.

د اروپا خلکو دا حقیقت سل کاله مخکې درک کړ، او د داسې نظام بنسټ یې کښېښاوه، چې د ټولو وګړو درناوی پکښې کېږي او ټولو ته منل سوی دی. موږ هم باید بدبینانه افکار نقد او رد کړو، نه قومونه. موږ باید خپل ځان او خپل ملت له کرکې، بدبینۍ او تعصب څخه وژغورو؛ هغه څه چې دسیسه‌ګر یې په کمین کې ناست دي، تر څو موږ پکښې ډوب کړي او خپله سلطه تضمین کړي.

د همدغه حالت یوه نمونه نن سبا په ایران کې هم وینو؛ ډېر ایرانیان د اسرائیلو په بمبار خوشحاله دي، پداسې حال کې چې دا د تأسف ځای دی، چې هیواد یې پر دوو ملتونو ویشلی دی. سربېره پر دې، د CIA د احصایې له مخې د نړۍ د

مسلمانانو نفوس دوه میلیارده دی او یهودیان فقط پنځلس میلیونه دي؛ یعني د هر یهودي په مقابل کي ۱۲۷ مسلمانان موجود دي؛ خو په عمل کي څه وینو؟ دا خپله د مسلمانانو ترمنځ د تفرقې او جهالت پایله ده (XVI).

د هیواد نوم بدلول یو خطا ایستونکی خوب دی؛ یوه پاروونکې ایډیولوژي ده، چي د نړۍ او سیمي د قدرتونو د استخباراتي ادارو لخوا طرحه سوې ده، او د بدبختۍ او کورنۍ جګړې پرته بل هیڅ پیغام نه لري. له همدې امله مهرباني وکړئ، د دښمنانو په پټو تلکو او دامونو باندی مه غولیږئ، تر څو له کورنیو جګړو او د هغې له بدبختیو څخه خوندي پاته سو. یو بل ومنئ، او پردو ته په خپل کور کي ځای مه ورکوئ. موږ نسو کولای، چي یو بل رد کړو؛ موږ ټول د یوه بدن غړي یو. په دې تاریخي پړاو کي باید هیچاته اجازه ورنه کړو، چي د اویایمي لسیزي د جګړو هغه ترخې تجربې بیا تکرار سي، چي له استثنا پرته ئې ټول بدمرغه کړو؛ که یوه نسو، نو تاریخ به موږ ونه بخښي.

په اوسني وضعیت کي د هیواد هیڅ قوم (که پښتون وي، که تاجک، که هزاره، ازبک یا نور وي ) مقصر نه دی. البته، ناپوهي او جهالت یوازي د پښتنو په منځ کي نه، بلکي د نړۍ په هر ګوټ کي د هر ملت او قوم د فقر، بدبختۍ او جګړو سبب سوی دی، له نسبي توپیرونو سره. د ځواکمنو هیوادونو او ګټه په دې کي ده، چي موږ یو له بله سره ښکېل پاته سو. نو ویلای سو، چي د خپل هیواد له یوه قوم سره په دښمنۍ کي خوشبختي پیشبیني کول ناممکن خوب دی. برعکس، دا فکر او اقدام موږ د پردیو لمني ته ورپوري وهي او په تاریخ کي د دې حالت بې‌شمیره بېلګي موجود دی.

په پايله کي بايد وويل سي، چي رښتيني مبارزين هغه کسان دي، چي نه يوازي د يوه هيواد بېلابېل قومونه، بلکي سيمي او نړۍ ته هم په خپل فکر کي ځای ورکړي او د ټولو د خوشحالۍ او آرامۍ په لټه کي وي. ټولي بشري ټولني، په مختلفو درجو کي له شاتګ، خرافاتو او ناپوهۍ سره مخ دي. مبارزين بايد د خپلو ټولنو نيمګړتياوي او حللاري معلومي کړي او خپل خلک وژغوري، نه دا چي يو قوم له بل څخه لوړ وبولي او د نفاق تخم وکري.

په پای کي بايد وويل سي، چي فرهنګي اختلاف بايد د عمومي فرهنګ د ودي او متقابل منلو سبب سي، نه د دښمنۍ او خصومت. دا توپيرونه بايد روڼ اندي د خپل تاريخي رسالت په توګه وپېژني، ومني، او د تحقق لپاره يې هڅه وکړي، تر څو د دغه څو ميليوني هيواد خلک، چي هر څه نوم پرې کښېښوول سي، خوشاله ژوند ولري. زموږ دنده د يو بل پر وړاندي د برترۍ ثبوت نه دی، بلکي د ورورولۍ او متقابل درناوي پالنه ده.

## شپږم : د مځکي پر مخ د عرفان/روحانيت له نظره د انسان د ژوند يو لنډه څېړنه

زما په اند، په دې عصر کي د پورته موضوعاتو پر سر شخړه کول ډېر ماشومانه فکر دی، چي لا هم موږ پکښي ښکېل يو؛ ځکه موږ نسو کولای، چي يوازي د يوې ناروغۍ ( کرکي او نفرت) څخه ځانونه وژغورو. موږ بايد حتماً د هغې پر درملنه باندي تمرکز وکړو، او دا ناروغي په اصل کي هماغه جهالت دی، چي نه يوازي زموږ په هيواد کي، بلکي د نړۍ په ټولو هيوادونو کي په بېلابېلو بڼو موجود دی. دا زموږ لپاره د افسوس ځای دی، چي نړۍ چيرته رسيدلې ده او موږ په کومو شيانو او افکارو بوخت يو. سره له دې، چي د پوهاوي د نشتوالي له امله، په ځانګړي ډول د ځوانانو ترمنځ، دا ډول روښانه کوونکي بحثونه ډېر اړين او ضروري دي.

راځئ اصلي موضوع ته راوګرځو! که له تاريخي منابعو او د مورخينو له اسنادو تير سو، نو وبه وينو چي بشر ميليونونه کاله پر مځکه ژوند کړی دی؛ خو تر اوسه تاريخ يا ساينس دا نه ده ثابته کړې، چي اصلاً لومړني ژوند او وروسته انسان، له کوم ځای څخه سرچينه اخيستې ده. په هغه وخت کي چي انسان د وطن فکر نه درلود او يوازي يې د طبيعت د جبر، آفتونو او د هغو د علتونو د نه پوهيدو په صورت کي ئې فقط د ژوندي پاتېدو هڅه کوله، هيچا څه نه دي ويلي او نه يې درک کړی چي لومړني انسان د مځکي په کوم ځای کي ژوند پيل کړ او له هغه ځايه نورو سيمو ته څنګه تللی دی.

په هغه وخت کي کلتور او ژبي لا وده نه وه کړې او قومونو هم وجود نه درلود؛ ښايي يوازي ابتدايي او کوچنۍ قبيلې به موجودي وې، چي د خپلي بقا لپاره اړ وو، يو له بل سره نژدې واوسي. موږ نه پوهيږو، چي په هماغه زمانه کي څوک چيرته تللي دي، يا څوک له چا سره مدغم سوي دي. دا هغه مځکه وه چي سرحد يې نه درلود، هيواد پکښي نه وو، پوځ نه وو (يوازي انسانان، حيوانات او د طبيعت بې پايه ښکلا وه)، دا روښانه ده چي موږ ټول له هماغه ځايه راغلي يو؛ له هماغه نامعلوم ځايه ( البته معلومي نقطې څخه، چي همدا مځکه ده) مو سفر پيل کړی دی. يا په بله وينا، موږ ټول په همدې سپېڅلې مځکه کي ريښې لرو، او د يوې اسرار لرونکي منبع څخه سرچينه اخلو.

د انسان دا تکاملي سفر حضرت مولانا بلخي داسي لنډيز کړی دی:

**از جمادی مردم و نامی شدم**

**وز نما مردم به حیوان برزدم**

**مردم از حیوانی و آدم شدم**

**پس چه ترسم کی ز مردن کم شدم**

يعني بشر په پيل کي د جماد په عالم کي وو، بيا د نبات او حيوان مرحلو ته لاړ او په پای کي د انسانيت مرحلې ته ورسيد. دا تکاملي سير، په حقيقت کی له جهالت څخه د آگاهۍ خوا ته سفر دی، او له محدوديت څخه د بې‌پايانۍ خوا ته حرکت.

اوس موږ یو شی له یو بل څخه جلا کوي، چي هغه د انسان حرص دی؛ دا داسي یو حالت دی، چي یو څوک نه یوازي ځان له نورو لوړ ګڼي، حتی مځکي او د نن سبا آسمانونه يې هم ترمنځ وېشلي دي. دا حالت ډېر خندوونکی دی، چي وايي: «دا مځکه زموږ ده»، خو دوی پدې نه پوهیږي، چي اصلاً موږ د دې مځکي مالکان نه یو، بلکي دا مځکه زموږ مالکه ده. مځکه په ملیونونو کلونو زموږ پرته په هستي کي موجوده وه، پداسي حال کي چي ښکلې او بډایه هم وه.

په نړۍ کي میلیونونه نسلونو انسانانو د دې مځکي د مالکیت دعوه وکړه؛ خو پرته له دې، چي درک وکړي د تل لپاره له منځه لاړل او هیڅ شی يې له ځانه سره یونه وړ. جالبه دا ده چي همدلته، په همدې مځکه کي نابود سول.

عارفان د قرآن کریم د مبارکو ایاتونو په حواله وايي، چي هر څه چي په هستي کي دي هغه د انسان لپاره دي؛ ځکه که انسان نه وای، نو څوک به توانیدلی وای، چي د دې هستۍ او د لایزال خالق پر وجود اعتراف او ستاینه وکړي؟ البته دا د هغه انسان لپاره ده چي هغه د «کامل انسان» درجې ته رسیدلی وي. که فرض کړو چي موږ هم هغه فکري پوخوالي ته رسېدلي یو، نو موږ مهم یو؛ ځکه موږ د څو میلیونه کلونو د تکامل حاصل یو، او په همدې خاوره کي یو بې‌ساری موجود یو. دا مهمه نه ده چي موږ د مځکي له کوم ځایه یو، بلکي دا مهمه ده، چي موږ د انسان په توګه ژوند کوو. هغه انسان چي د «کامل نسان» درجې ته ورسیږي او د مځکي تر ټولو مقدس موجود وګرځي. او د عرفان له نظره، موږ هم د همدغه هدف لپاره مځکي ته راغلي یو، تر څو دا هدف تر لاسه کړو.

حیات په مجموع کې یو دی؛ ځکه موږ وینو، چې مځکه یوه ده، زموږ لمر یو دی، د مځکې اتموسفیر یو دی، اکسیجن یو دی، له همدې امله انسان هم یو دی، نو باید فکر وکړو چې دا سرحدونه له کومه راغلي دي؟ دا سرحدونه د هغو کسانو لخوا رامنځته سوي دي، چې ناروغي یې لرله او اوس هم ناروغ دي، دا ناروغي حرص نومیږي، او د دې ناروغۍ له امله دا زرګونه سرحدونه پر مځکه جوړ سوي دي، او بیا د قدرتونو په بدلون سره له منځه تللي دي. موږ د سرحدونو اړوند نه پوهېږو، چې واقعاً له کومه ځایه تر کومه ځایه غځېدلي وو. باید دا موضوع لا روښانه کړو، چې دا سرحدونه د هیوادونو سیاستوالو جوړ کړي دي، تر څو خپله واکمني ټینګه کړي. تاریخ شاهد دی، چې د بشر د عمر په اوږدو کې میلیونونه انسانان د همدغه سرحدونو له امله د مرګ کندی ته لویدلی دي او دربدري یې زغملې ده.

لکه څنګه چې مولانا د قوم او ژبې له سرحده تیر سوی و، موږ هم باید د یوه برابر او ګډ ژوند لرونکي ټولنې د جوړولو لپاره له ژبني او قومي تعصبونو څخه تیر سو او د انسانیت، عدالت، متقابل درناوي او ګډ ژوند پر اصل باور ولرو.

**اووم: پایله**

که زموږ خلک ( که هغه پښتانه وي، تاجک، ازبکان، هزاره‌گان، ترکمنان او نور) غواړي، چې خپل سرنوشت او د خپل اولس راتلونکي ته مثبت تغیر ورکړي، نو باید لومړی د ناپوهۍ، تفرقه اچوني، پردي‌پرستۍ، اقتصادي ناتوانۍ او فکري غلامۍ ریښې له منځه یوسي. هیڅ اولس د داخلي دښمنۍ او تفرقې پر بنسټ نېکمرغۍ ته نه‌دی رسیدلی، او هیڅ هیواد د پردیو په تکیه عزت او پایدار استقلال نه‌دی ترلاسه کړی.

دا رسالت یوازې د یوه فرد یا محدودي ډلې پر اوږو نه‌دی، بلکې دا د عامه بیدارۍ، ټولنیز یووالي، سیاسي تدبر او ګډو قربانیو غوښتنه کوي. هر وګړی، که د هیواد دننه وي یا بهر، مسؤلیت لري، چې د خپل وس مطابق د پوهاوي، اصلاح او د روښانه راتلونکي جوړولو لپاره ونډه واخلي. ټولنه د یوه بدن په څېر ده؛ که یو غړی ناروغ او کمزوری سي، نور غړي هم د هغه له اغېز څخه خوندي نه پاتېږي.

پښتانه له تاجکانو سره، تاجکان له ازبکانو سره، او ازبکان له ترکمنانو سره د تاریخ په اوږدو کې نه یوازې جغرافیوي، بلکې فرهنګي، ژبني، اقتصادي او حتی کورنیو اړخونو کې سره یو ځای سوي دي. دا پیوندونه ښیي، چې هیڅ څوک نسي کولای ځان له بل څخه جلا تعریف کړي. موږ یو بل بشپړوو، او بېله یو بل څخه نیمګړي پاتېږو.

نو ځکه وحدت او ګډ ژوند یوازې یو سیاسي شعار نه دی، بلکې یوه تاریخي او حیاتي اړتیا ده. که څه هم زموږ تیر د تفرقې او تعصب له زخمونو څخه ډک وي، مګر راتلونکی مو کولای سي د هیلو، همکارۍ او آبادۍ ډک وي. دا یوازې هغه وخت ممکن دی، چې موږ ټول پر خپلو ګډو ارزښتونو تکیه وکړو، د یو بل توپیرونو ته درناوی وکړو، او د یوه آزاد، خپلواک او سوکاله هیواد د جوړولو لپاره لاسونه سره ورکړو.

## اتم – له دغه ډول بحرانونو څخه د وتلو لپاره څو وړاندیزونه

د افغانستان خلک د ټولو قومونو په شمول، باید څه ډول ګامونه پورته کړي، تر څو خپل ځان او هیواد له اوسني بحران څخه وژغوري؟ دا پوښتنه ډېره ژوره او مهمه ده؛ ځکه زموږ د خلکو ستونزې یوازې اقتصادي نه دي، بلکې سیاسي، فرهنګي، تعلیمي، تاریخي او جغرافیوي اړخونه هم لري. دلته څو اساسي اقدامات یادوم، چې زموږ خلک یې باید په ګډه ترسره کړي، تر څو خپل ځان او وطن له روان بحران څخه خلاص کړي:

### الف – تعلیم ته لومړیتوب ورکول

تعلیم د هر ملت د نجات او پرمختګ بنسټ دی، نو موږ باید:

- خپلو اولادونو ته معیاري او عصري زده‌کړې برابرې کړو؛
- د لوړو زده‌کړو او تخنیکي مهارتونو په برخه کې پانګوني وکړو؛

- د خپل تاریخ، ژبې، فرهنګ او هویت د پوهاوي لپاره خپلواک تعلیمي مواد برابر کړو.

زموږ قوت زموږ په یووالي او زغم کي نغښتی دی. که موږ له نفاق څخه تیر سو، نو زموږ ږغ به اغېز، قوت او اوریدونکي پیدا کړي. واکمنان به له زور څخه لاس واخلي او د ملت ږغ ته به غوږ سي. د دې ولسي قوت او بدلون تازه بېلګي د بنګله‌دیش او نیپال هیوادونه دي.

- له قومي، ژبني او سیمه‌ییزو اختلافاتو پورته، د یوه ملت په توګه چلند وسي؛
- خپل ځان له بهرنیو اجنډاوو لیري وساتل سي او د خپلو ګټو لپاره واحد دریځ غوره کړل سي؛
- د خپلو واقعي استازو سیاسي ملاتړ وسي، نه له هغو کسانو چي د پردیو په ګټه کار کوي؛
- له شخصیت‌پرستۍ او مړو ستایلو څخه د راتلونکي لید ته تمرکز وکړل سي او خپل ځان د تیر وخت له بندیزونو څخه را وایستل سي.

## ج – اقتصادي پیاوړتیا او ځان بسیاوالی هغه وخت ترلاسه کېږي چي:

- کورنۍ تجارت، کرهنه، کوچنۍ صنایع او محلي کاروبارونه وده ومومي؛

- د بهرنيو مرستو پر ځای له خپلو داخلي سرچینو څخه ګټې واخیستل سي؛
- د بهرنيو اقتصادي سلطو څخه د خلاصون لاري ولټول سي.

**د - فرهنګي بيداري او د هويت ساتنه**

- خپل هويت په مثبت ډول تعريف او وساتل سي؛
- خپل فرهنګ، ژبه، موسيقي، ادبيات، تاريخ او ارزښتونه ترويج او وپالل سي؛
- د تفرقې اچوونکو نظرياتو په وړاندي علمي او فرهنګي مبارزه وسي.

**هـ - خپلواکي رسنۍ او فکري مبارزه**

- زموږ خلک بايد خپلي رسنۍ جوړي کړي، تر څو د دوی ږغ او د هيواد حقايق نړيوالو ته ورسوي؛ ژړ ژورناليزم (بې‌اساسه او تحريفوونکی) هيواد ته زيان رسوي؛
- د درواغو خپروني، د تاريخ تحريف او جعلي هويت‌سازۍ افشا سي؛
- د ټولنيزو شبکو له لاري د پوهاوي مثبت پيغامونه خپاره سي.

**و - د قومونو ترمنځ تفاهم او مدني مبارزه**

- له ټولو قومونو سره د تفاهم، عدالت او مساوات پر بنسټ تعامل وسي؛

- هر ډول تاوتریخوالی رد سي او مدني، قانوني او سیاسي لاري غوره کړل سي؛
- د نړیوالو معیارونو مطابق د خپلو حقونو لپاره ږغ پورته سي.

**ز – د تاریخ او حقایقو بیا ژوندي کول**

- خپل تاریخ له اصلي سرچینو وپیژندل سي، نه د سیاسي جعل له لاري؛
- د شخصیت د تخریب پر ځای، خپل مشران، پوهان، لیکوالان او مفکران معرفي کړل سي؛
- د تیري زمانې تیروتني تحلیل سي او د راتلونکي لپاره روښانه لید ترسیم سي.

**وَمِنَ اللهِ التَّوفِیق**

په درناوی

محمدسعید فضلی

Mohammad Saeed Fazli – Toronto, September 2025

Copyright © [2025]. All rights reserved unless otherwise authorized.

## نهم : منابع او مأُخذونه

| منبع | صفحه | ماخذ شمیره |
|---|---|---|
| د استاد حمید نوید لمر انترنتی پاڼه – (https://lmarmagazine.com/?author=7) | 7 | I |
| افغان و افغانستان – عبدالحی حبیبی | 9 | II |
| فردوسی شاهنامه –مسکو چاپ صفحه۱۱٦ | 10 | III |
| د استاد حمید نوید لمر انترنتی پاڼه – (https://lmarmagazine.com/?author=7) | 10 | !V |
| موږ څوک یو – انجینیر محمد داوود اڅک و اگره والا | 13 | V |
| عبدالحی حبیبي، په خپل اثر *پژوهشی در تاریخ افغانستان* کي، د اوستایي متونو او فردوسي شاهنامه له لاري د پښتنو پر تاریخي تړاو باندی څېړنه کوي. | 16 | VI |
| W. K. Fraser-Tytler – *Afghanistan: A Study of Political Developments in Central & Southern Asia 1950* د پښتنو قبایلو او آریایي او سکایي قومونو ترمنځ د اړیکو څېړنه. | 17 | VII A |
| James Darmesteter, *Sacred Books of the East, Vol. 4: The Zend-Avesta* (1880s) اوستا د وروستۍ دورې اثر دی، چې په ځانگړي ډول د پاکۍ او ناپاکۍ قوانین، د ویسپرد د قربانۍ مراسم، او د ویشت ها د ایزدان ستاینه تر بحث لاندي نیسي. | 17 | VII B |
| **G. Gnoli** – *Zoroaster's Time and Homeland* د اوستایي جغرافیایي موقعیت او له افغانستان او د ایران له ختیځ سره د هغه اړیکي په اړه. (1975) | 17 | VII C |
| H.W. Bailey – *Indo-Scythian Studies* (1985) | 17 | VII |

| | | |
|---|---|---|
| د سکاها په اړه او د افغانستان له قبایلوسره یې احتمالی ارتباط. | | D |
| **Yarshater, Ehsan (ed.)** – *Cambridge History of Iran, Vol. II & III* د ایران د ختیځو قومونو (پارتان، سکایان، او آریایان) اړوند فصلونه | 17 | VII E |
| Olaf Caroe – The Pathans: 550 B.C.–A.D. اوستا او شاهنامه یې د پښتنو د تاریخي شالید سره په تړاو څېړلي دي(1958) . | 17 | VII F |
| Skjaervo (2005). "Linguistic Studies on the Iranian Languages: Pashto and Avestan." Journal of Iranian Studies. د پښتو ژبې جامع څېړنه، د ګرامري جوړښتونو او ژبني ځانګړتیاوو په تمرکز سره | 17 | VII G |
| 1-Bamshad et al. (2001). "Genetic evidence on the origins of Indian caste populations." Genome Research. https://genome.cshlp.org/content/11/6/994 د جینیتکی څېړنو راپور | 18 | VIII A |
| Qamar et al. (2005). "Y-chromosomal DNA variation in Pakistan." American Journal of Human Genetics. https://www.ncbi.nlm.nih.gov/pmc/ د جینیتکی څېړنو راپور | 18 | VIII B |
| Bamshad et al. (2003). "Genetic evidence for the origins of South and Central Asians." American Journal of Human Genetics.د جینیتکی څېړنو راپور | 18 | VIII C |
| Firasat et al., BMC Genetics, 2007<br>N. Nasidze et al., Annals of Human Genetics, 2006.Ayub et al., The American Journal of Human Genetics, 2015 د جینیتکی څېړنو راپور | 18 | VIII D |

| | | |
|---|---|---|
| Mashkani et al. (2017). "Linguistic and Genetic Evidence on Pashto and its Relations with Iranian Languages." Iranian Journal of Linguistics.د جینیتکی څېړنو راپور | 18 | VIII E |
| Dempster et al. (2019). "A Genetic and Linguistic Overview of Pashtun Populations." Journal of Human Genetics.د جینیتکی څېړنو راپور | 18 | VIII F |
| Afghanistan and Its Inhabitants هغه کتاب چی محمد حیات خان بهادر د بنو د سیاسي اجنټ (والی) په امر په ۱۸٦۰ کال کې یو لیکلی اثر چمتو کړی، چي پکښې پښتانه یهودو ته منسوب سوي دي. | 19 | IX |
| https://www.youtube.com/live/jEp1yJXxS9E?si=zbqV2g73SLzEDnwb د ډاکتر عزیزسره د مرکې لینک | 26 | X |
| په دhttps://www.youtube.com/watch?v=Hbba-ZblFL0 by لاهورکی د ډاکتر اسد محمود هغه ویدیو چی پښتانه یی د حضرت سلیمان ع اولاده بللی ده | 27 | XI |
| Irfan Habib - India in the World; the World in India هغه منبع چي د هندوستان او بریتانیا نفوس یې په ۱۸۰۰ کال کی مقایسه کړی دی. | 29 | XII |
| مواخذ: د حقیقت پلټنه، بروس ریچاردسن) | 37 | XIII |
| https://www.youtube.com/watch?v=miE_ueJF-2Y د هستی تلویزیون مرکه د ډاکتر فطرت ناشناس سره | 43 | XIV |
| https://www.afghanistan-analysts.org/en/reports/rights د برقی تذکرو پروژی څېړنیز او کرونولوژی راپور. | 44 | XV |
| د نړۍ د نفوس په اړه د متحده ایالاتو د سي آي اې انترنتیی صفحه | 46 | XVI |